# د پېټي خزانې میزان

## ریښتیا میزان دی؟

محمد آصف «صمیم»

زرین «انځور»

وَأَقِيمُواْ ٱلْوَزْنَ بِٱلْقِسْطِ
وَلَا تُخْسِرُواْ ٱلْمِيزَانَ ﴿٩﴾
ٱلرَّحْمَٰنُ

# د پېټي خزانې ميزان

# رېښتيا ميزان دی؟

(مقالې)


ليکوال
محمّد آصف صميم
محمّد زرين انځور



۱۳۶۹ ش

کتاب : د پښتې خزانې میزان
ريښتيا ميزان دی ؟

ليکوال : محمدآصف صميم
زرين انځور

د چاپ وخت : ۱۳۶۹ ش ثور
۱۹۹۰ ع - می

خطاط : سيد محی الدين هاشمی

د موندلو پته: مکتبه سرحد (خيبربازار-پېښور)
يونيورسټی بک ايجنسی (" ")

بيه : (۲۵) روپۍ

# فهرست


| شمېره | سرلیک | لیکوال | مخونه |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱- | سریزه «... زه تنقید خوبه کومه!» | | ۵-۷ |
| ۲- | «پټه خزانه» او «پټه خزانه-فی المیزان | محمد آصف صمیم | ۸-۱۲ |
| ۳- | د «پټه خزانه- فی المیزان» پر خپرېدو د څو عمومي ټکي | زرین انځور | ۱۳-٦۵ |
| ٤- | په «پټه خزانه - فی المیزان» کې تحقیقي اعتراضات | محمد آصف صمیم | ٦٦-۱۱۳ |
| ۵- | د «پټه خزانه-فی المیزان» د یو شک په ځواب کې | زرین انځور | ۱۱٤-۱٦۲ |

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## سریزه

### «... زه تنقید خوبه کومه»!

د «پښتو خزانې میزان رښتیا میزان دی؟» زموږ د هغو مقالو او انتقادي مقالو مجموعه ده چې د ښاغلي لیکوال قلندر مومند د چاپ شوي اثر «پښتو خزانه - فی المیزان» د ځینو اړخونو په ځواب کې لیکل شوې دي.

په «پښته خزانه - فی المیزان» کې ښاغلي قلندرمومند د پښتو ادبیاتو په باب څه داسې ټکي مطرح کړي دي چې موږ ته یې چوپه خوله پاتې کېدل مناسب ښکاره نه شول، ځکه خو مو د یاد شوي اثر له خپرېدلو سره سم د کتاب د بېلا بېلو اړخونو په باب د څه لیکلو او خپرولو تکل وکړ؛ خو زموږ د دغه تکل او د دې کتاب د چاپ ترمینځ هم پوره وخت تېر شو او د دې کار یو بنیادي علت د هجرت په ژوندکې

زموږ ځینې ځانګړې ستونزې او د موادو او منابعو د پیدا کېدلو او لېږدون ستونزې وې .

د مقالو په دغه مجموعه کې د ښاغلي قلندر مومند د «پټه خزانه - فی المیزان» د مطالبو په باب هر اړخیزه او بشپړه څېړنه، نه ده شوې، یوازې د ځینو خواوو په باب یې دغه مقالې کښلې شوې دي. د «پټه خزانه - فی المیزان» په باب د یو هر اړخیز انتقادي کتاب د لیکلو تابیا نومیالي لیکوال ښاغلي حبیب الله رفیع کړې ده او ښکاره ده چې هغه د کتاب په هر څېړکي، هره برخه او هره کرښه مفصلې خبرې کوي ځکه نو موږ داوس له پاره د خپلو همدغو مقالو چاپ مناسب وګاڼه .

کوم بل ټکی چې دلته یې یادول لازم دي، هغه دادی چې زموږ هیله داوه چې «د پټې خزانې میزان ریښتیا میزان دی؟» په ښه قطع او صحافت او ښه کاغذ تاسو دوستانو او د پښتو ادبیاتو مینه والو ته وړاندې کړو خو په دې کار کې هم د خپلو مادي امکاناتو د نشتوالي له امله پاتې راغلو، امید دی چې زموږ معذرت به و منئ .

«پښه خزانه» د پښتو ګډه معنوي هستي ده. د دا سې معنوي شتمنيو او پانګو ساتنه، څېړنه او خپرونه د ټولو ګډه دنده ده. دغه د دولت، ادبي، فرهنګي او معنوي شتمنيو ته په سطحي او سرسري نظر کتل نه دي پکار. که موږ په خپل دغه زيار کې، دغه دنده لږ هم سرته رسولې وي، د خپل زيار اجر به مو موندلی وي.

په درښت

# «پټه خزانه»

# او

# «پټه خزانه - في الميزان»

«پټه خزانه» د پښتو ادب په تاریخ کې یوه مغتنمه او قیمتي تذکره ده چې په موندل کېدو یې یوازې د پښتو ژبې پر ادبي اړخ په زړه پورې زیاتوب رانغی؛ بلکې زموږ د لرغوني فرهنګ او ثقافت ډېرې تاریخي او علمي پټې خواوې یې هم روښانه کړې او یوازې په خپله د یوه تاریخي او ادبي اثر په توګه ونه پېژندل شوه بلکې نورې یې هم داسې علمي او تاریخي آثار راوښودل چې تر دغه وخته یې یا له نامه سره څوک بلد نه وو او که یو نیم اورېدل شوی هم و، نو استفاده ترې دومره نه وه شوې، موږ یې د ځینو ناویاتو آثارو یو څو نمونې د بېلګې په ډول راخیستل بې ځایه نه ګڼو:

افضل الطرایق ، القرایض فی رد الروافض، ارشاد الفقرا، تاریخ سوری ، تحفهٔ صالح ، گلدسته زعفرانی ، تحفهٔ-واعظین ، جامع فرایض ، د خدای مینه ، د سالو وږمه ، روضهٔ ربانی ، غرغښت نامه ، لرغونی پښتانه او . . .

د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک د پښتنو ادیب پلوالک شاه حُسین هوتک د دربار یو عالم ، ادیب او فاضل پښتون دی چې د شاه حسین هوتک په هڅونه او ترغیب یې خپل د غه کرانبیه اثر بشپړ کړی دی . محمد هوتک د پټې خزانې په بشپړونه او څېړنه کې یوازې پر خپله څانګړې پوهه تړ نه لګوي بلکې په خپلې مطلوبې ورکې یې د پښتونخوا په لستو کړ چېدلی ، پوښتنې یې کړي ، پلټنې یې کړې خپل تربور رحمت هوتک ته یې غونډ اینبی او پر لاسته ورغلیو ماأخذونو یې استنا د کړی دی .

د دې ټو ل ز یار او کړ او کاللې ترڅنګ داهم یو واقعیت دی چې د محمد هوتک په پټه خزانه کې د بشري اقتضا تو له مخې کمزورید او تېروتنې هم شته او ولې به نه وي چې که ننني محقق د شلمی سدی د دومږ پر مختللیو علمي وسایلو او امکاناتو له موجودیت سره سره داسې څه

ليکي چې په سلوکې د شلو نه، چې د لسو علمي تن يو تن د هم نه شي ماتولای. خو د پټې خزانې د غه نيمګړتيا وې هيڅکله د دې دليل کېدای نه شي چې په موجوديت يې سترګې پټې شي او که فرض کړو د اادعا او شک ځای هم ولري، نو د دې مطلب به د اوي چې « پټه خزانه فی الميزان » د خپلو موجودو تېروتنو او نيمګړتياوو له وجهې د کوم کتاب يا تحقيق اثر نوم نه دی، ځکه مؤلف يې د خپل پي په بهير کې سنو ښيدلی دی. د پټې خزانې وجود او را مينځته کېدو په بنا يې د « پټه خزانه فی الميزان » د محترم ليکوال په خپل ځيني نورو ته هم شکونه را ولاړ کړي وي، خو په کتابي بڼه ديوه د غه راز کتاب ليکل په پښتو کې ورومبۍ هڅه ده، نو ځکه موږ د لته د محترم قلندر مومند د « پټه خزانه فی الميزان » محتويا تو ته يوا ځې يوه معرّفه کتنه کوو:

« پټه خزانه فی الميزان » د ښاغلي قلندر مومند د هغه اثر نوم دی چې د چاپ کال خو يې ظاهراً ۱۹۸۸ ليکل شوی دی، خو د لوستوالو لاسو ته د ۱۹۸۹ کال په پای کې ورغی.

« پټه خزانه فی الميزان » له ( الف - ح ) مخونو پر ته

په ۳۷۳ مخونو کې راغونډ شوی اثر دی چې تر «فهرس» لاندې یې (پنځلس) سرلیکونه راغلي دي، د وروستي خبرې په یوه برخه کې د بناغلي قلندر مومند ادعا ده چې د پښتو خزانې په باب (یا پر خلاف) چې د وی کومه وروستۍ مقاله ولیکله نو اروا ښاد دوست محمد خان کامل یې له نتیجو سره بشپړ اتفاق وکړ، خو په خپله یې د خپلو خیالاتو لیکلو اظهار ځکه ونکړای شو چې بیا خو د «۱۶۳۰» نومي کتاب لیکلو او بیا خپلې رنځورۍ فرصت ورنه کړ.

تر ابتدايي معروضات «لاندې د پښتو خزانې دلومړي دويم، دريم او وروستي څپرونو په باب غبرگې، د یوسف د دیوان شهادت» هغه سرلیک دي چې تر ی لاندې یې په پټه خزانه کې د یوسف په باب راغلیو کیفیاتو ته په شک کتل شوي دي، وروستي د «بلکي» په نامه هغه مثالونه راخلي چې د «هیواد» — «گروهیدل» — «استوگه» او څینو نورو کلمو د معناوو په باب شکونه پکې شوي دي چې پټې خزانې یې ددغو په اصطلاح په غیراصلي معناوو کې استعمال کړي دي.

په «تاریخي پس منظر» کې د «پټې خزانې» درا پیدا کیدو

او موندلو په باب شک تر ځای ورکړ شوی دی. په «جدیت» کې یې هڅه کړې ده چې «پټه خزانه» د معاصرو تحقیقي آدابو او اصولو پر بنده او محصول وګڼي. «د پټې خزانې مآخذ» هغه سرلیک دی چې ورلاندې د پټې خزانې د منابعو پر تکذیب خبرې شوې دي، د «د پټې خزانې راویان» هم هغه بحث راځي چې د پټې خزانې د راویانو پر وثوق یې شک ښکاره شوی دی. د «فني اړخونه» تر سرلیک لاندې لیکي: په دې باب زه د پټې خزانې د ترتیب، ادبي کمزوریو او ځینو نورو غلطیو په باره کې د اسې معروضات پیش کول غواړم چې د هغو ایکي یو مناسب عنوان دغه دی چې ما ولیکلو. «اینکرانیزم» تر دې سرلیک لاندې هغه څه شامل شوي دي چې دی یې په پټه خزانه کې تاریخي تېروتنې ګڼي. په «متفرقات» کې لکه له عنوانه چې ښکاري د پټې خزانې پر ځینو متفرقو موضوعاتو بحث شوی دی. «الف او ب ضمیمه» او «الف او ب اشاریه» د کتاب وروستي سرلیکونه دي.

په یو څو ټکیو کې د تحقیقي آثارو معرفي که څه هم د محقق او لیکوال ادبي حق نه شي پر ځای کولی، خو موږ له مجبوریته نه د موضوع لمن رانغاړو او له لوستونکیو د دې څو کرښو په لوستو د سرخوږي بخښنه غواړو.

# د "پټه خزانه في الميزان"
# پر څېړندود څو عمومي ټکي

د پياوړي او منلي ليکوال ښاغلي قلندر مومند « پټه خزانه في الميزان » پوله داسې ټکي لري چې د علمي او اکاډميکې څېړنې له نظره د بوخه تأمل وړ بريښي.

په ياد شوي اثر کې ډېر داسې ټکي شته چې د تحقيق د اصولو په رڼا کې غور ورته پکار دی. دلته نه غواړم چې د تحقيق د ډېرو دقيقو او باريکو علمي اصولو او بېلابېلو لارو چارو او روشونو په رڼا کې د «پټه خزانه في الميزان» جاج واخلم، بلکه غواړم چې د دې انتقادي کتاب د څېړندود په باب څو عمومي ټکي ستاسو خدمت ته وړاندې کړم، او دا هغه عمومي ټکي دي چې په ډېرو ابتدايي تحقيقي ليکنو کې هم ليکونکي غور بايد ورته وکړي. دلته به د ښاغلي ليکوال د ياد شوي اثر د څېړندود ځينو عامو نيمګړتياوو ته په ډېر لنډه توګه له نمونو سره يو ځای اشاره وکړم.

۱- په پټه، خز انه فی المیزان کې څه داسې ټکي شته دي چې دخپې نې د ډېرو ابتدايي او عامو اصولو په رڼا کې هېڅکله استناد نشي پرې کېدلی . داپه شفاهي توګه په یوچاپسې دداسې خبرې ترل دي چې هیڅوک یې نشي منلی . د نمونې په توګه هغه د پښتو د نومیالي محقق او ادیب اروا ښاد استاد دوست محمد خان کامل په باب لیکي :

« ماچې د پټې خزانې په باره کې وړو مېړ مقاله ولیکله اوخپل ګران اومحترم ملګری او استاد ښاغلي دوست محمدخان کامل ته مې له چاپ کېدو نه مخکې واورو له نوهغوی هغو نتیجو سره دکلي اتفاق اظهار وکړ چې مایې پخپله مقاله کې ذکر کړې و. له دې نه پس محترم مرحوم کامل پنځه کاله ژوندی و او د پټې خزانې په باره کې یې نه صرف زما رأی سره همېښه اتفاق کړی دی ، بلکې څو ځلې یې دا اراده اظهار کړې وه چې د پټې خزانې په باره کې خپل خیالات لږ نور وضاحت سره پښتون اولس ته پېش کړي . خو د ۱۹۳۰ لیک او بیا د هغوی رنځور تیا هغوی له فرصت ور نکړ و او د هغوی اراده پوره نه شوه . »(۱)

په تحقیقي لیکنو کې هېڅکله په داسې شفاهي حوالو (اوهغه هم دیو مرحوم لیکوال په باب) استناد نشي کېدلی . پټه خزانه

ټومړی پلا په ۱۳۲۳ ش هـ کال په کابل کې چاپ شوې ده او ـ
استاد کامل مومند په ۱۳۵۹ ش هـ کال کې وفات شوی دی. که
چېرې مرحوم استادکامل مومند ته دپښتو خزانې په باب څه
شک پیدا شوی وای او یا یې دپښتو خزانې پرکوم اړخ دڅه لیکلو
نیت لرلی نوخامخا به یې په دغو (۳۶) کلونو کې لیکلی، څرګند
کړی او چاپ کړی وای. یا بې شوه دا خبره چې هغه مرحوم استاد
دسنا غلی لیکوال قلندرمومند له لیکنې سره اتفاق (یا بشپړ اتفاق)
لرلو که نه؟ نوکه یې لرلو خامخا به یې په دغو یا بې پنځه کلونو
کې دخپل ځانګړي نظرڅرګند ونه هم کړې وای. او س ځوک
څنګه د هغه پیا وړي استاد له وفات څخه څو کاله وروسته
دا خبره دسند په توګه کولی شي چې ماته یې یو وخت داسې
ویلي وو، او بل به وایې چې نه ماته یې داسې ویلي دي. علي
لیکنه، سند غواړي او له سندا و «شهادت»، پرته باید نور څه
ونه منل شي. که مرحوم استاد کامل په دغو (۳۶) کلونو کې
څه چاپ کړي وای یا یې په راوروسته پنځه کلونو کې څه
چاپ ته سپارلي وای او یا هم حتی د هغه مرحوم استاد په ژوند
د هغه دځانګړي نظر په باب چا څه کښلي او خپاره کړي وای،
او هغه پرې چُپ پاتې شوی وای، بیا هم یوڅه فکر پرې ـ

کېدای شو ، خو اوس د هغه مرحوم استاد په باب د داسې خبرو کول د علمي او تحقیقي لیکنې په څولحه کې هیڅکله نشي ځای پیدا کولای .

۲- په دې کتاب کې په نامعلومو کسانو هم استناد شوی دی ، هیڅ د ول مأخذ او منبع نه لري ، هسې لکه یوه آوازه او «افواه» چې دیو «شهادت» په توګه ثبت شي .

په «پټه خزانه فی المیزان» کې یو ځای داسې لولو :

« ما په افغانستان کې چې کومو ورونوسره په دې سلسله کې د بحث کوشش کړی دی ، د هغوا صرار داوچې د دې کتاب د صحت په حقله شکوک سنکاره کول د قومي مصلحتونوسره سمون نه خوري : د دوی په ځواب کې زما موقف تل داوچې هغه قومي مصلحت چې د انتقاد نه او چت وګڼلی شي ، په حقیقت کې د قومي مفاداتو خلاف وي ، ځکه نو ما هیڅکله د دې کتاب په حقله خپله رای د څه نامنهاد مصلحت تابعه نه ده ساتلې . » (۲)

خبره دا ده چې « پټه خزانه » له څه خاکرو قومي مصلحتونو سره هیڅ اړه نه لري . دو مره ده چې د ټولو پښتنو یو ګډ فرهنګي میراث دی ، خو دا خبره د «قومي مصلحتونو» خبره نه ده .

پښتانه د یو لرغوني اولس په توګه د تاریخ په پاڼو کې ثبت شوي وو

او دي ، د خپلو تاریخي بنسټونو د ټیکنبت له پاره هیڅ دول

«په اصطلاح اختراع» ته ضرورت نه لري. که خبره یوازې د-

لرغونتوب وي، نو دا نه یوازې په پټه خزانه بلکه د افغانستان

او د نړۍ په تاریخونو کې یو څرګند واقعیت دی. دغه دول-

لرغونتوب د څه خاص غرور او افتخار خبره هم نه ده. په

معاصره دنیا کې لرغوني اولسونه او معاصر او نوي اولسونه د بشپړ

رنه جلاکېږي ونکو برخو په توګه مطرح دي او دکوم خاص

«ویاړ او غرور یا شرم او خجالت» مسله په کې نشي مطرح کېدلی

او څکه خو موږ هم د تاریخ د غوربېنتینو یا بونو د څېړکو له

د هیڅ دول اختراع اړتیا نه لرو. یا نې شو د ځینو کسانو هغه

خبره چې د سنا غلي قلندر مومند په وینا یې د څه قومي مصلحتونو

موضوع را منځته کړې ده ، دا خبره چا کړې ده؟ څنګه یې

کړې ده؟ چېرته یې کړې ده؟ او داسې نورې پوښتنې دي

چې له محقق څخه باید وشي. په علمي تحقیق کې داسې کلي او برته

له سند څخه خبرې د زیات تأمل او دقت وړ بریښي.

۳- کوم بل ټکی چې د سنا غلي ليکوال قلندر مومند په

«پټه خزانه في الميزان» کې د پام وړ دی هغه دا دی چې څه

داسې مسایل هم په مقدماتي توګه په دغه اثر کې مطرح شوي

دی چې له علمي تحقیق سره او په عام ډول له یوې خبرې سره هیڅ اړه نه لري. مثلاً دا چې په دې کار کې زما «نیت» څه دی؟ یا زما د نیت په باب باید څوک څه بل ډول فکر و نه کړي، یا داسې نور. هغه د «پښتنې خزانې» د خبرو په پیل کې لیکي:

« ... یوه خبره نه دز په له اخلاصه کوم چې ما دا هڅه په سنه نیت او په دلیل کړې دي، که زما په نیت څوک حمله کوي، یا زما خبره بې دلیله گڼي، نو دا به ما سره ډېره لویه بې انصافي وي. هرچا ته حق دی چې زما دلیل نه صحیح یا غلط و وایې، خو زما په نیت د حملې کولو حق هیچا ته هم نشته او که څوک داسې کوي نو د خدای په مخکې به ځواب ورکوي ځکه چې د نیت په باره کې علم صرف هغه ته حاصل دی.» (۳)

دا ډول خبرې په یو علمي او اکاډمیک تحقیق کې هیڅ د مطرح کولو وړ نه دي - زما له پاره، د لوستونکو له پاره، د مینه والو له پاره او د پښتو ادبیاتو د څېړونکو له پاره دا موضوع مطرح نه ده چې دا یا هغه اثر بناغلي لیکوال په کوم نیت لیکلی دی؟ بلکه په علمي اثر کې تر هرڅه د مخه دا خبره د پام وړ ده چې دا یا هغه اثر څومره د علمي څېړنو د اصولو په رڼا کې لیکل شوی دی؟ که انتقادي اثر دی، آیا څومره

د نقد اصول په کې ترنظر لاندې ساتل شوي دي؟ له منابعو او مأخذونو څخه او څو مره استنا ده په کې شوی ده؟ دلایل څومره منطقي، علمي او د منلو وړ دي؟ کتاب او د کتاب د ځېړلو وړ موضوعات څو مره منسجم او دقیق دي؟ او داسې نور. د کتاب د لوستونکي او مینه وال له پاره یوازې دغه تکي ارزښت لري او بس. داچې د دې کتاب په لیکلو کې یې څه دولنیت وو دا د تحقیق له کار سره او له علمي کار سره اړه نه لري.

دلته خبره د نیت نه ده، د علم ده، د دلیل او د تحقیق ده. دا خبره د علمي، تاریخي او ادبي تحقیقاتو په ډناکې د څومره ارزښت وړ ده؟ نیت ده چا د نړه خبره ده، یوازې په هغه پورې اړه لري، له علمي مسایلو سره هیڅ اړه نشي لرلی او نه باید په داسې موضوعاتو کې مطرح شي. که د «پټه خزانه فی المیزان» په دغه دول څېړنه او لیکنه کې څه خاص «نیت» یا «نیتونه» وي هم، د کره کتونکي (نقاد) له پاره د تحقیق په وخت کې نه دي مطرح.

البته خپله محترم قلندر مومند کله کله په هغه اثر کې د نورو د «نیت» په باب پریمانه خبرې کړې دي. د نمونې په توګه هغه داسې فکر کوي چې کوم ندې د پرو علمي او اکاډمیکو کارونو «نیت» یوازې او یوازې دا وو چې د «پټې خزانې» ارزښت یو ځل

بیا خرګنده کړي او دده (قلندر صاحب) د یوې مقالې ځواب ووایي . هغه لیکي :

« د دیو معترضانو د لیکلو نه پس ماته دا پته ولګیده چې زما د پر ومبۍ مقالې ځواب کې د کابل بېلابېلو فرهنګي مؤسسو د محمد هوتک یاد ، د امیر کروړ یاد ، شیخ بستان بړیڅ ، د پښتو خزانې فرهنګ ، د نور محمد غلجي نافع المسلمین ، د زرغوني یاد او د محمد هوتک د ونډ او مزار په شکل کړی دی . دیو کې صرف د محمد هوتک نړوند او مزار د مسودې د لیک په دوران کې ماته رارسیدلی و ، چې ما یې د کتاب نوټس اخیستی دی . نورو کتابونو ته ما انتظار مناسب و نه ګڼلو . که ماته د موضوع سره د انصاف کولو د پاره ضروري ښکاره شوه نو د دغو نورو کتابونو د جواب الجواب په باره کې به ګرانو لوستونکو ته خپله عندیه د یوې رسالې په شکل کې بیل وخت وړاندې کړم . » (٤)

د دې پر ولیک په باره کې دوه عرضه موجود دي :

لومړی دا چې د غه علمي ارزښتناک آثار چې ښاغلي قلندر مومند یې یادونه کړې ده ، زموږ دا دي افتخارا تو د بېلابېلو مناسبتونو په باره خپاره شوي دي او په دې نیت نه دي لیکل شوي یا خپاره شوي چې د ښاغلي قلندر مومند د یوې مقالې ځواب

وو ایي . آخر خپله قلندر مومند وایي چي: «څنګه چي د «نیت» په باره کي علم صرف هغه (خدای ج) ته حاصل دی.»

په یا دو شویو آثارو کي د افغانستان د بېلا بېلو پوهانو او لیکوالو ارزښتناکي مقالي را ټولي شوي او د مجموعو په بڼه چاپ شوي دي، ځو یي د څانګړو لیکوالو مستقل آثار دي او په ډېرو نیت نه دي لیکل شوي چي د بناغلي قلندر مومند د مقالي ځواب ورکړل شي، البته که د بحث او خبرو په لړکي کله کله د نوموړي د مقالي په باب هم خبره شوې وي او بحث پرې شوی وي، د ابېله خبره ده.

دویم او د تعجب وړ ټکی دا دی چي د پښتو خزانې سره رابطه د غه ارزښتناک علمي آثار خپله قلندر صاحب حتی لا لیدلي هم نه دي. پو ازې د نوميالي لیکوال ښاغلي زلمي هېوادمل «محمد هوتک ژوند او مزار» یې لیدلی او د غه نور آثار یې له نظره هم نه دي تېر شوي لکه: د پښتو خزانې فرهنګ (د اکاډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد) د نوو غونډ یاد، د محمد هوتک یاد، د امیر کروړ یاد (د مقالو مجموعې) او یو شمېر نور. دا څنګه کېدی شي چي یو څوک دې د پښتو خزانې په باب د (۲۷۳) مخونو دیو انتقادي کتاب د لیکلو تکل وکړي او د دا سې اساسي کتابونو

او د پښتو خزانې د ښېلا ښېلو شاعرانو د ژوند او چاپېریال او آثارو په هکله د نویو او معاصرو څېړنو پاڼې دي يې نه وي ليدلي او حتی د دغه ډول آثارو ته دې انتظار هم لازم و نه گڼي چې ليرې خونه، هم دغه د پښتو ر په ښېلا ښېلو کتاب پلورنځيو کې هم پيدا کېدای شي.

په علمي تحقيقاتو کې ز يا ته حوصله، بشپړ دقت او د نوو منابعو څېړنه او ښتې استفاده، ز يات ارزښت لري. د غه راز په تحقيقاتو کې بايد د مسايلو درو ښاندکولو او څرگندولو له پاره کار وشي. زموږ له پاره لازمه ده چې د پښتو ادبي تاريخ - ناسپړل شوي اړخونه راوسپړو، وي څېړو، خپلو خلکو او نړيوالو ته يې وړاندې کړو، نه دا چې له دغه ياهغه ليکوال سره د کينې يا رخې له مخې خپل ټول زيار او زحمت يوازې د يوه شخص د کارونو د نفې کولو له پاره ځانگړی کړو. په نقد او کره کتنه کې د دقت ترڅنگ دا هم مهم دي چې يو ادبي علمي کار بايد يوازې په دې بنسټ تر سره نه شي چې له يو خاص «چا» څخه د يلوی «طرفداري» او تائيد تصور په کې ځای کړی شوی وي. (٥) د دې په بل اړخ کې بايد د يو چا د غندنې منظور هم په کې پروت نه وي. زموږ يوازينی منظور هم بايد د خپلو اديبانو د نتو برخـــو

او پښتو او ورکو اړخونو راښکاره کول او څرګندول وي.

زموږ ژبه او زموږ دژبې ادبيات همدغه دول د تيقوکارونو ته اړتيا لري. زموږ پر ليکوالو او څېړونکو ده چې دغه تشه ډکه کړي اوډ ژبې او ادبياتو له پاره د بنسټيزو کارونو تکل وکړي، نه داچې دبسټونو او افتخاراتو پر نړولو خپل ځانونه دومره ستړي کړي چې وران خو يې کړي خو د دقيقو علمي دلايلو نشتوالی يې کې نيات محسوس وي او له بلې خوا له نورو اساسي علمي کارونو څخه زموږ داسې منلي او نوميالي ليکوال ځان بلې خواته مصروف کړي.

٤- سنا غلی قلندر مومند په «پټه خزانه في الميزان»کې زموږ د ځينو حقدارو ليکوالو په باب (اوهغه هم له بده مرغه دهغوی له وفات څخه وروسته) څه داسې خبرې کړي دي چې په يوه علمي ليکنه کې يې په داسې ډول راوړل يوه عمده نيمګړتيا ده. د نموني له پاره هغه د پښتو ديو حقدار ليکوال او مؤرخ استاد پوهاند عبدالحی حبيبي په باب ليکي:

«... د ديو دواړو متضادو خبرو نه کم ان کم دا

ثابتېږي چې د حبيبي مرحوم « حافظه » څه خو مټ ثره شوې وه او د حافظې له دې څو ابې نه لوستونکي خپله خپله نتيجه اُخذ کولو کې حق بجانب دي . » (٦)

په دې تحقيقي ليک کې د دا ډول لحن او لهجې استعمال د زيات تأمل وړ دی . د يو داسې ليکوال په باب چې خپل ټول عمر يې د پښتو ادبياتو په صادقانه خدمت کې تېر کړی په دې لاره کې يې د هيڅ ډول ستړيا احساس نه دی کړی او د هيڅ ډول پاداش او سوغات اميد يې د پښتو په سر له چا څخه نه دی لرلی ، د دا ډول خبرو کول لوستونکي او د پښتو ادبياتو علاقمندان نه يوازې د اېچې غمجن او خواشيني کوي ، بلکه د تحقيق اصولو له مخې هم يې ځای کار نه بربښي .

مرحوم استاد حبيبي خو لا پېر ځای پرېښود ، محقق او نقاد بايد د يو ډېر « مبتدي » ليکوال په باب هم داسې خبرې و نه کړي ، او که بيا هغه د استاد حبيبي په څېر شخصيت وي او اوس ژمونږ او ستاسو په منځ کې نه هم وي ، نو بيا خو داسې خبرې د پوره غور وړ دي .

٥ - دا خوسمه ده چې يو ليکوال د يوې موضوع په شا او خوا کې بايد لټون وکړي او بېلابېل مواد را ټول کړي

خو داسې نه چې مخکې له مخکې یو « تاکلی نظر » له ځان سره قایم کړی شي او بیا یو ازې د همدغه نظر په رڼا کې لیک وشي . د یوې مشخصې موضوع دڅېړنې له پاره باید بېلا بېل سندونه ، مراجع او مأخذونه لټول شي ، یادداشت ( نوټ ) شي او بیا دهغو سندونو په رڼا کې څېړنه وشي . خو سباغلی لیکوال قلندر مومند د « پښته خزانه فی المیزان » په څېړنه او لیکنه کې داسې کار نه دی کړی ، هغه تدکه په همدغه تحقیق بهیر کې څه داسې سندونه په نظر ورغلي دي ، چې دغه سندونه دهغه له نظر سره سمون نه خوري ، هغه یې هیڅ راخیستي نه دي . یوازې د خپل نظر د ملاتړ له پاره په سندونو ( او یا هغه دچاخبره په ( دستاویزاتو ) پسې گرځېدلی دی .

په همدې لړکې ، هغه مخکې له مخکې یوه « نظریه » له ځان سره جوړه کړې ده ، خپله نتیجې ته یې رسېدلی دی ، د هماغه خپل نظر د « تائید » له پاره یې دلایل راوړي دي . هغه داسې نه دي کړي چې د یوې موضوع د ښې روښانتیا لپاره تحقیق وکړي او په دې هکله بېلابېل نظرونه ، سندونه او عقاید راوړي او په پای کې نتیجې ته یې

واخلي. د دې پر ځای مخکې له مخکې خپل ځان نتيجې ته رسوي او غواړي چې پر نورو يې هم ومني، هغه وايي:

«... زه کوشش کوم چې د ځينو نورو نکتو د بيا نولوسره سره د نيږ و اعتراضونو په حقله څه نور تفصيلات هم گرانو لوستونکيو ته پيش کړم او د دې خبرې د ثابتولو د پاره څه نور دلايل هم وړاندې کړم چې پټه خزانه يو جعلي دستاوېز دی.» (۷)

وگورئ! هغه مخکې له مخکې خپل «حکم» صادروي او بيا نو د خپل حکم د تائيد، تحکيم او تحميل له پاره يو څه دلايلو په شکل راوړي. په دې لړ کې هغو دلايلو ته په هيڅ ځای کې پاملرنه نه کوي چې د ده د نظر په مخالف اړخ کې واقع کېږي، او دا د تحقيق په کار کې يوه نيمگړتيا گڼل کېږي.

٦ - په دغه انتقادي تحقيقي اثر کې څه داسې مسايل مطرح شوي دي چې د هغوی مطرح کول او بيا په ټولو جزئياتو او تفصيلاتو يې مطرح کول، له اصلي موضوع سره، يعنې د پټې خزانې له صحت او سقم يا له «جعلي توب» سره هيڅ اړه لري. په دې سلسله کې د «پټې خزانې» د نوم په باب او د بحث شوی دی. د پټې خزانې د نوم په باب

سنا علی قلندر مومند داسې تنقید کوي چې یو څو په پټه-
خزانه کې ډېر داسې کسان راغلي او معرفي شوي چې د محمد
هوتک په وخت کې هم پټ نه وو، څرګند وو، بله دا چې د
پټې خزانې نوم د شلمې پېړۍ پیدا وار سنګاری. محمد هوتک
څنګه پوهېده چې په شلمه پېړۍ کې به د غه اثر د ښتیا،، پټه-
خزانه،،وي. دکتاب د نوم په باب دغه بحث څو-څو ځله
تکرار شوی دی.

خبره دا ده چې که د سنا غلي قلندر مومند انتقاد دا
وي چې محمد هوتک دخپلې تذکرې له پاره ښه او مناسب
نوم نه دی ټاکلی، نو دا جلا خبره ده او د پټې خزانې له اصل
او یا ددې اثر له متن سره څه رابطه نه لري او که منظور یې دا
وي چې د پټې خزانې نوم د نوي عصر زېږنده دی، نو
دا بیا بېله خبره ده او کېدای شي په ډېرې اسانۍ سره
ځواب کړای شي.

په هغه وخت کې هم ډېر داسې شخصیتونه وو چې د
وخت د خلکو له پاره ناپېژندلي وو او ډېرې برخې یې
په هماغه وخت کې هم په یوه ادبي تذکره کې د ،،پټې خزانې
په توګه دار نښت ډېروي. حتی زموږ په او سنیو ادبي-

تذکره کې په «ورکه خزانه - دوه ټوکه» او «پټ ستوري کې» هم ټول ستوري ورک یا پټ نه وو او نه دي، خو داخبره - هیڅکله ددې مانا نه شي لرلی چې گوندې «ورکه خزانه» یا «پټ ستوري» هیڅ رښتینې موجودیت نه لري. یوه بله ډېره نوې بېلگه (نمونه) وړاندې کوم. د ښاغلي رومان ساغر د شعر یوه مجموعه د «پاسته کاڼي» په نوم چاپ او خپره شوې ده. پر دغه مجموعه د ښاغلي قلندر مومند په سریزه کې بیا هم د مجموعې د نوم په باب خبرې شوي دي لیکي:

«پاسته کاڼي یو بالکل غیر فطري ترکیب دی او پښتو کې یې خو خیل غبر کې دوه داسې مفهومونه لرلي دي چې د نسلونو او پېړیو مشترکه عقل او تجربې صحیح ثابت کړي دي. لومړی مفهوم یې دا متل پښتو ته ورکړی دی چې: «کاڼی به پوست نه شي او دښمن به دوست نه شي» خدای پاک دې وکړي چې د رومان ساغر دا پاسته کاڼي د دښمنانو دښمنۍ په دوستۍ بدلولو کې په کار راشي... د پاسته کاڼي دویم مفهوم پښتو ته یو بل متل بخښلی دی. دا متل دالفاظو تر حده تریخ خو په حقیقت کې ډېر خوږ دی. مشرانو ویلي دي چې: «که د خوږ کاڼی پاسته وي، نوګیدړانو به ټول خلاص

کړې وه.... » (۸)

اوس و ګورو چې سباغلی قلندر مومند د «پاسته کاڼي» د نوم په باب پر پښتانه انتقاد ونه لري او دا نوم بېخي نامناسب بولي. دا د هغه نظر دی او سره له دې چې د «پاسته کاڼي» د نوم په باب چې (نوی او شاعرانه) دی هم، د سباغلی قلندر مومند نظر د غور وړ دی. (۹) خو که دا و منو چې د سرېزې د لیکوال په نظر د غه نوم مناسب او وړ نه دی، نو دا خبره خو په هېڅ ډول د کتاب او مجموعې له ښته والي یا نشتوالي سره اړه نه لري.

۷- دا د بیا تو د تاریخ د هغو بابونو په باب چې څه لږ و ډېر د نظر اختلاف په کې لیدل کېږي، یا د مواد و د لږ والي او ډېر والي، ښته والي او نشتوالي مسایل په کې مطرح وي، د قاطع حکمونو نهایي «صادرول» سم کار نه دی. په «پټه خزانه في المیزان» کې سباغلی لیکوال او نقاد قلندر مومند خپل حکم په هر فصل کې په «نهایي» او پرېکړې توګه صادر کړی دی. د کتاب له مقدمې څخه نیولې بیا تر وروستي ټکي پورې په ټولو برخو کې لیکوال خپل «قاطع حکم» صادر کړی دی، په مقدمه کې لیکي:

« که چېرې ځینې معاصر لیکوونکي د پښتو خزانې په باره کې د « لاریب فیه » (نعوذ بالله) په غلطه عقیده ټینګ نه وي نو شاید چې ما هم خپله پر ومبۍ او دوېمه مقاله کافي ګڼلې وی (چې د دې مجموعې هم ومبۍ او دوهمه مقاله ده) او دې سلسله کې مې د خپلو مخالفینو په شمېر کې اضافه نه وی کړی. » (۱۰)

په ادبي او علمي موضوعاتو کې داسې قاطع حکم چې دغه یا هغه نظر بېخي غلط دی، زړه ته ل په غلطه لار روان دی خو بیا زه په سمه لار روان یم، علمي وسعت نه دی، هېڅوک داسې حق نه لري چې له یوې مخې هرڅه ته غلط او ناسم ووايي.

په داسې مواردو کې د علمي او ادبي نقد (کره کتنې) اصول دا ایجابوي چې و ویل شي: دغه موضوع د تأمل وړ ده، دغه ټکي یو څه فکر غواړي، دی یا هغه داسې وایي، خو زما په نظر داسې سنه برېښي، زه داسې عقیده لرم، یا زه په دې باب داسې فکر او نظر لرم، زما نظر له هغه بل نظر سره تفاوت لري، دا موضوع دنور بحث او دقت او تأمل ور ښکاري او داسې نور... نه دا چې په قاطع ډول وویل شي: زه سم وایم او هغه نور غلط نظر لري!

د «پټه خزانه في الميزان» د هر فصل او بحث په پای کې د قاضي په ډول نهايي حکم صادر شوی دی. په هر فصل کې له اوو دوو اوو دوو بحثونو وروسته (چې دهغو اوو دوو بحثونو په باب هم ډېرې خبرې کېدی شي) يو قاطع حکم شوی دی. د هر فصل نتيجه په تقريباً يو ډول «حکم» کې نغښتل شوې ده. دلته يې نندارې کوو:

دلومړي څپرکي (فصل) په پای کې ليکي:

«... د دې معروضاتو په رڼا کې د کتاب د اصليت په باره کې د شکونو پيدا کېدل ضروري دي او ځکه زه «پټه خزانه» له اعتباره پرېوځې، بې بنياده او فرضي مجموعه گڼلو کې حق بجانب يم.» (۱۱)

د دويم څپرکي په پای کې ليکي:

«... د اتول حقايق د محمد هوتک د «تاليف» د فرضي او جعلي کېدو ښکاره او ناقابل ترديد ثبوتونه پېش کوي او که د يونس د ديوان غوندې د نورو قلمي نسخو چې پټه خزانه يې ذکر کوي، د چاپ کېدو بندوبست وکړای شو، نو د يونس د ديوان غوندې دغه نورې نسخې به هم د دې حقيقت اضافي ثبوتونه پېش کړي چې پټه خزانه يو جعلي او غيرمستند

کتاب دی .» (۱۲)

په داسې حال کې چې دیونس په دیوان کې هیڅ داسې کوم سند او شهادت نه شته چې د پټې خزانې د « په اصطلاح جعلي توب» سند دې وګڼلی شي .

د درپیم څېړکي په پای کې هم کښل شوي دي :

«... په دې وجه یا خو موږ د محمد هوتک کتاب صحیح شمېرو او د پښتو دا نقول معلوم شوی ادب به «جعلي» ګڼو او یا به د محمد هوتک کتاب جعلي منو او د پښتو نقول معلوم ادب به صحیح ګڼو. زما په خیال دا دویمه خبره غوره ده ځکه چې کوم دلایل تر او سه وړاندې شو ، د هغو په رڼا کې زمونږ معلوم ادب صحیح او پټه خزانه جعلي ثابتېږي.» (۱۳)

دیو بل فصل په پای کې بیا لیکي :

« ... نو په دې بنیاد د سلیمان ماکو تذکره هم د « پټې خزانې » غنډې ( غونډې ) یو جعلي د ستاوېز دی او د بېټ نیکه ، د ملکیار غرشین او شیخ اسمعیل د شاعرۍ قصه هم یوه افسانه ثابته شي . » (۱٤)

یا داچې : « ... او چې دا نقول راویان یې نقول - روایتونه د دروغو کوي نو پټه خزانه به څو ک په رښتیا و

مبنی کتاب وګڼي . » (۱۵)

دغه راز په بل ځای کې لیکي : « ... او د د سې حقیقت د پاره د بل کوم ثبوت او دلیل ضرورت نشته چې د پېټې خزانې غلطۍ په یو ځای د محمد هوتک او حبیبي مرحوم غلطۍ دي او لوستونکي آزاد دي چې د دې حقیقت په بنیاد خپله رایه قائمه او فیصله « صادره » کړي . » (۱۶)

او بیا د کتاب د وروستي فصل په وروستۍ برخه کې لیکي :

« ... دا هرڅه (!) چې عرض کړی شو په دې رای قائمولو کې مرسته کوي چې پټه خزانه یو بې اصله ، بې بنیاده او حد درجه ناقابل تمسک لیک دی او د دې کتاب په پاڼه پاڼه غلط روایات ، غلط توجهات او غلط واقعات بالاراده په دې غرض لیکل شوي دي چې د پښتو ادب د تاریخ په باب لوستونکي په هغو غلط فهمیو کې مبتلا کړي چې د لیکونکیو یو ې خاصې ډلې د خاصو مقاصدو د پاره خپلې کړې دي . » (۱۷)

دا ډول قاطع حکمونه او د قهر او غضب تر حده جذباتي وینا د یوې اکاډمیکې تحقیقي لیکنې په څوله کې راوړل نه دي پکار . د داسې مسایلو په باب چې لا د ډېر و زیاتو بحثونو

امکانات په کې شته دي، دا د ول قاطع حکمونه سه نه دي.

۸ ـ کله-کله مثلی لیکوال سباغلی قلندر مومند خپل ځانګړی نظر د مثلو شویو اوپرېکړو اصولو په توګه مطرح کوي. د لته یوازې یو نمونه ستاسو خدمت ته وړاندې کول غواړم.

سباغلی قلندر مومند د شعر د کلمې په باب چې په پښتو خزانه کې په خپل اصلي علمي او دقیق ادبي مفهوم راغلې ده، سل ډول توجیهات وړاندې کوي. د شعر د کلمې په باب او په پښتو خزانه کې یې د دقیقې او پرځای کارونې په باب لیکي:

« فارسي، پښتو، اردو او د مشرق په ځینو نورو ژبو کې هم شعر د «بیت» په معنیٰ استعمالېږي او تر څو چې د ترکیب اضافي په صورت کې نه وي راغلی، تو هم دا معنیٰ لري. د اضافت یا د توصیف په ځینې صورتونو کې معنیٰ البته شاعري شي لکه "شعر العجم"، "شعر پارسی(؟)"، شعر ابدار" وغیره. د افغانستان محترم لیکونکي د الفظ عام طور سره هم په دې معنیٰ استعمالوي. پخپله په پښتو خزانه کې خو-ځو ځل دا کلمه په همدې معنیٰ راغلې ده. دمثال

په طور : نصرالدين اندړ سبه اشعار وايي ... دیوان د اشعارو لري ... ځکه چې طبع لطيفه يې د ټوده نو يې د پښتو اشعار وويل ... کاتب الحروف کله کله دی وينې او اشعار يې اوري ... »

« و لې دا کلمه ( شعر ) د افغانستان محترم ليکونکي او س په يوه نوې معنی کې هم استعمالوي چې د غه معنی کې قدما و نه دی استعمال کړی او دا استعمال يې بالکل جديد دی . د افغانستان د دې دور ليکونکي « شعر » د نظم په معنی هم استعمالوي ، بلکه کله کله يې د غزل د پاره هم يکار وي او « شعر » کم از کم د ربو ځایونوکې د پو جديد و معنوکې په پښه خزانه کې راغلی دی ... د دې کلمې دا جديد استعمال دا ثابتوي[1] چې د پښتې خزانې د دیو متعلقه برخو ليکونکې ځوک نوی ليکونکی دی چې د دولسمې صدی هجري سره هيڅ تعلق نه لري . او چې دا ثابته شي نو د پښتې خزانې د جعلي کېدو يو بل ثبوت پیدا شي ... » (۱۸)

يعنې دا چې پښتې خزانې و لې « شعر » يوازې د « بيت » په مفهوم او « اشعار » يوازې د « ابياتو » په مفهوم نه دی راوړی او ليکلي يې دي چې :

« د غه يو شعر ماله خپله پلاره اورېدلی و چې نقل يې کاندم »

یا : «د تېمن بابا د غه شعرونه زما پلار له بستان الاولیا
څخه نقل کول او ماله ده اورېدل .»

د تعجب وړ خبره ده . شعر یوازې د «بیت» په مفهوم نه دی او د اشعارو یا شعرونو مانا «بیتونه یا ابیات» نه دي . دا د ښاغلي قلندر مومند په اصطلاح « د افغانستان د محترمو لیکونکیو » نوی او اوسنی ایجاد نه دی . د نړۍ په ټولو ژبو او د ټولو ژبو په ادبیاتو کې شعر د ادبیاتو د یوې برخې په توګه یو عام مفهوم دی . له بده مرغه چې زموږ د دې خواځیني پښتانه لیکوال شعر «بیت» بولي او شعرونه یوازې د «بیتونو» په مفهوم راوړي چې دادی ښاغلي او منلي لیکوال قلندر مومند هم د یو بنیادي اور بنسټیز اصل په توګه راخیستی دی . په داسې حال کې چې دا خبره د ننیات تأمل وړ ده او «دلته» زموږ پښتانه ورونه شاعران او لیکوال یو ځل بیا باید غور پرې وکړي . دا یوه تېروتنه ده چې شعر یوازې او یوازې د «بیت» په مانا وکارول شي او په پټه خزانه کې دا تېروتنه نه ده شوې . هغه بېلګې چې ښاغلي قلندر مومند راوړې دي ، له هغو ټولو څخه مقصد شعر په عام مفهوم دی ، نه د بیت او بیتونو په مفهوم .

خبره داده چې شعر یو عمومي او کلي مفهوم دی، که یو بیت وي، که یوه قصیده وي، که یوه بشپړه غزل وي، که یوه څلوریزه وي، که یو بشپړ نظم وي (البته په هغه صورت کې چې ټول شعري خصوصیات ولري.)، که مخمس وي، که یو اوږده دوه درې بیته وي، یا آنا د شعر او شعري طرحه وي، ټول او ټول «شعر» دی. شعر (یوازې د یو بیت په مانا) هغه ناسمي ده چې باید تصحیح شي.

د نورو څو بېلګو نمونو څخه تېرېږم، په پښتو ادبیاتو کې هم پریمانه نمونې شته دي. که له پېښې خزانې څخه راتېر شو، خوشحال خان خټک هم «شعر» په خپل همدغه دقیق او اصلي مفهوم راوړی دی او له نظم سره یې په مترادف ډول ذکر کړی دی. هغه په «دستارنامه»، کې د شعر د هنر په باب (د بیت د هنر په باب نه) یو په زړه پورې بحث کړی دی چې راځئ څېني برخې یې ولولو:

«څلورم هنر د شعر د نظم: دا هنر چې د شعر د نظم دی، هم داخل د کسب کمال دی اما مشتق دی له شعوره، چې جبلي طبیعت د شعر لري، شعر د هغه دی. فنونه، منعتونه یې په کسب حاصلېږي، که د بېر تحصیل د علم وکا، صنایع،

بدایع د شعر زده کا، چې طبیعت د شعر جبلي نه لري، خبره به نظم نه کا. د شعر هم جبلي طبیعت بویه، هم یې علم د صنایع بدایع بویه، چې واړه نده کا سوای تر دا نمک شهر یني د شعر تعلق په درد په محبت لري چې پخنګی یې په استعمال. دراصل شعر په لغت کې کلام منظوم وته وایي، دواړه مصرع دبیت په تول تللی، په حروفو سره سمې، عروض، قافیه سره جوړ، په داکې هرچې وي، که قصیده وي، که غزل، که رباعي، که قطعه ده، که مخمس، که مسدس، په ډېر وجه شعر وایه شي. قصیده هغه چې تر څورلس بیت زیات تر سل تېر، هرچې وایي په کې پند یا نصیحت، یا مدح ذم راوړي. غزل ترپنځه بیت ور په هسې تر څورلس پورې، هرچې وي په کې تعریف د معشوقې دخط و خال. قطعه مطلع نه لري، په دا قطعه بلله شي، که دوه بیته، که اووه، اته، لس، شل هرچې وي... د شعر پایه لویه ده. د حکمت سره یا دشوی دی، پیغامبرانو ویلی دی. د پیغامبرانو اصحابو ویلی دی...»(۱۹)

په دې توګه موږ وینو چې د سناغلی قلندر مومند د راوړي تنقید، بېل خواب دخوشحال خان خټک په دغې یوه بیلګه کې راوړل شوی دی. هغه شعر د «بیت»، په مانا

نه دی راوړی . کله چې د «بیت» دراوړلو ضرورت پېښ

شوی دی، نو هغه داسې لیکلي دي :

«چې تقصیر یې په ځان تحقیق نه شي ، د چا په خوله باور

نه بویه . سای تمام د ړ دی چې پخپله معلوم شي ، فکر یې ژر

بو یه . بیت :

علاج واقعه پیش از وقوع باید کرد دریغ سود ندارد چو رفت کار از دست ...» (۲۰)

صه

او آیا کله چې هجري په د غو بیتونو کې «شعر» یا «اشعار»

یادوي، نو منظور یې ترې «بیت یا بیتونه» دي؟ وګورئ :

ـ په اشعار چې د فارسي سخنراني کړم

په لحد کې ارواح خوش دخاقاني کړم

ـ ماله شعره شغل کړ په بېجاپور کې

چاوې تاله راځي دروه افغان دی

هغه شعر چې څوک سحر ورته وایي

تا هر ګز لیدلی کله په جهان دی

نه چې پوه په هنر نه یې هجري څه کا

ورشه ګوره هغه شعر چې اسان دی

زه حلال سحر بې شکه په اشعار کړم

ځکه هومره په خپل شعر افتخار کړم «(۲۱)

دلته شعر یا اشعار په هیڅ ډول د بیت یا بیتونو په مانا نه دی راغلی، په عام ډول د هجري د تولو غزلو، قصیدو قطعاتو او رباعیاتو له پاره استعمال شوی دی .

که له دې څخه راتېر شو، د رحمان بابا هغه «کلیات» هم اړوو چې د مرحوم استاد کامل مومند او پخپله د بناعلي قلندر مومند په «تحقیق، ترتیب او سمونه» چاپ شوی دی :

په غزل کې خو دوه بیته انتخاب دی

د رحمان «تمام غزل دی انتخاب (۲۲)

دا خو شعر دی رحمانه! چې هم گنج دی هم هنر (۲۳)

هسې زیب کا په بیاض د رحمان شعر

لکه زلفې د خوبانو په رخسار (۲٤)

چې منکر پرې اعتراض کولی نه شي

دا دې شعر دی رحمانه «که اعجاز (۲۵)

که یې شعر د رحمان مومند تر غوږ شي

غوږ به نه باسي په شعر د خوشحال ځوک

درحمان و سوزان شعر ته حیران یم

چې یې اور بل شوی نه دی په دېوان

هیڅ کم نه دی تر سپین مخیو د لبرانو

بلکې به دی زما دا شعر نمکین

د رحمان شعر به ولې نادر نه وي

چې ثنا کاندي له تا غوندې نادرې (۲۶)

د عبدالحمید مومند له دېوان څخه به هم څو نمونې راواخلو:

وآسمان ته به د شعر زینې کېږ دي

که حمید د غم له سره زنګون وکېښې (۲۷)

یا: که څوک غواړي د حمید سرخرویه شعر

دا به بې خون ځیګر میسر نه شي (۲۸)

او یا لکه چې عبدالقادرخان ختک وایي :

خاص الخاص عبدالقادره پرې پوهېږي

عام به څه ستا له اشعاره مومي حظ (۲۹)

یا: کله زه عبدالقادر دشعر لاف کړم

مرثیې د تللیو وایم ماتمي یم (۳۰)

نو آیا په دغو ټولو بیتونوکې شعر په کوم ځای کې د «بیت»

په مانا راغلی دی؟ په کوم ځای کې چې د «بیت» د مفهوم ضرورت

راغلی دی، نو «بیت»، ځای شوی دی.

په تاریخ مرصع کې هم په هرځای کې چې بیت راغلی په څرګنده ورته «بیت» لیکل شوی دی، نه شعر، وګورئ:

« د مغل د پښتانه سره اعتبار لاړ، قصیده په هغه وخت داوه بیت:

چې دانا تر نادان لاوشي بتر
مګر نه دی داشو نه ځښه معتبر

... دا بیت په آخر دد ې قصیدی دی: بیت:

مستجاب مهمند که چر که د مغل ده
زه خوشحال خټک خو بازیم ځای مې غر (۳۱)

او کاظم خان شیدا وایي:

مضمون د شعر لکه پیکروی — رنګین الفاظ یې ځت و زیور وی
ورته ضرور دي دادواړه څیزه — پیکر که هرڅو دلربا تر وي (۳۲)

ص

په دې برخه کې د ډېرې زیاتې نمونې شته دي او د هر پښتون شاعر د دیوان چې را واړوې «شعر» په کې په خپل اصلي مفهوم راغلی دی، او «بیت» یا «بیتونه» په خپل مفهوم. هېڅکله به سنه نه وي که و ویل شي چې: «د افغانستان محترم لیکونکي او س

دا کلمه (شعر) په یوه نوې معنی کې هم استعمالوي» د ا د افغانستان د لیکوالو (اختراع» نه ده، اصول دي او باید همداسې وي. یو بیت هم شعر دی، یو یو بیتیز شعر، خو د شعر مانا یوازې یو بیت نه دی او نه زموږ په کلاسیکو او لرغونو ادبیاتو کې په هغه مفهوم راغلی دی چې بناغلي لیکوال قلندر مومند یې تصور او اټکل کړی دی.

مرحوم ایوب صابر د لته هم شعر ته بیت نه دی ویلی

بلکه بیت ته یې بیت ویلی دی:

له زړګي چې وینه وڅڅوم بیت شي
زمانې زما نقصان ته خو پام وکړ

ص

۹ - کوم اساسي ټکي چې د بیا وېرې او قدرمن لیکوال بناغلي قلندر مومند په پټه خزانه في المیزان «کې راتر ستګو کېږي هغه دا دي په تحقیق کې یې تناقض هم راترستګو کېږي، دغسې تناقض د علمي آثارو لوی نیمګړتیا ګڼل کېدای شي. دغه تناقض د دې کتاب په ډېرو برخو کې لیدل کېږي، خو موږ یې یوازې دڅو نمونو یادونه کوو. تاسو وګورئ: د بیتې خزانې هغه برخه چې

د سباغلي قلندر مومند په نظر د « جدیدیت» پښتو ژبې ته دا انتقاد وارد بولی، لیکي :

« پټه خزانه کې ځای په ځای داسې بې شمېره غلطې په نظر راځي چې د هغو توقع د دولسمې صدۍ د لیکونکي ( لکه چې د محمد هوتک په باره کې دعوه کېږي ) نه هیڅ نشي کېدی. د مثال په طور هغه اسماء یا صفتونه وغیره چې وروستی حرف یې « یا » وي ، د پښتو د ګرامر او د مشرانو د تعامل د قاعدې په بنیاد چې د جمع په صیغه کې استعمال شي نو د « ی » په ځای د « یو » شکل واخلي. مثلاً « مزری » به د جمع په صورت کې د « مزریو » شي ، « اېږیدی » به « اېږیدیو » شي او داسې نور او داسې نور. په دې ګرامري اصول باندې د پښتې خزانې په ډېرو ځایونو کې عمل شوی دی... او س نو د دې قاعدې د خلاف ورزۍ مثالونه چې په « پټه خزانه » کې ګورو نو دا نتیجې ته رسېږو چې دا غلطه پښتو چا « نوي » لیکونکي لیکلې ده ... »(۳۳)

په دې باب باید عرض شي چې د غه ډول ګرامري اصل نه په بشپړه توګه نه په کلاسیکو او لرغونو آثارو کې او نه په معاصرو ادبي آثارو کې پامل رنه شوې ده .

ګرامر له ژبې څخه راوځي او د مشرانو په « تعامل » پورې

دومره اړه نه لري، پښتو (ګړ دودونو) کې هم په دغه باب -

اختلاف ليدل کېداى شي او حتى د يوه ليکوال په ليکنو کې يونيم

ځای په پام کې ساتل کېږي او په نورو ځايونو کې په بله بڼه راځي

ان چې ښاغلی قلندر يې د خپلې دعوی او تحکم له قطعيت سره

سره رعايت نه کوي. د خپل همدې تاليف په ٤٢ ، ٥٠ ، ٥٣ ،

٦٤ ، ٢٨٥ ، ٢٨٧ مخونو کې د دې ليکي څو پېلګې (٢٢) مخ

کې بيا ترې د دغه ګرامري قاعده او د « مشرانو تعامل » هېر

شوې دی ، ليکي : د دې معروضاتو په رڼا کې ... »

دا موضوع اوس په ليکنو کې هم له عمده نيمګړتياوو څخه نښی

ګڼل کېدای . دا په هېڅ ډول د « جديديت » ثبوت نه دی .

د دې استدلال د تضاد او تناقض ټکی په دې کې

دی چې د ښاغلي قلندر مومند په نظر په ځينو برخو کې خو

دغه ګرامری اصل ته پام شوی دی ، خو کله کله نه دی

شوی ، هغه چې ورته نه دی شوی ، د « جديديت » اړخ

شو ، خو هغه چې شوی دی ، هغه بيا د « پولرغونی اثر د

قدامت ) دليل نه دی ګڼل شوی .

په دغه ډول ګرامري اړخونو د « څه پوهنې » د ليکلو

اړتیا هم نه وه . د « مړو » په ځای د « مړیو » او داسې نور و لیکل که د غلطۍ په عنوان مطرح شي ، نو او سني بڼه د دې آثار هم باید ټول په « نوښتونو » کې شي .

او د تناقض برخه یې دا هم ده چې د دغو اړخونو په باب د « جدیدیت » حکم خوکېږي ، مګر بل ځای که هغه بیا په « پټه خزانه » کې داسې څه هم پیدا کړي چې وګوري او وویني چې دا خو په هیڅ ډول توجیه کېدای نشي او د « جدیدیت » او انتقاد هیڅ هم نه شي په کې مطرح کېدلی ، نو لیکوال بیا بله خبره راخلي او بله وینا کوي ، وګورئ :

« . . . د پټې خزانې ترتیب په دوه قسمه شوی دی . اول ترتیب یې د خزانو ، دی چې د مرتب د پخته کارۍ ثبوت ورکوي ، یعنې د دریو خزانو ویش په داسې اصولو شوی دی چې د اترې ښکاري چې مؤلف یو پخته کار ـ لیکونکی دی چې اوله خزانه کې د تېرې زمانې شاعران ، دویمه کې د خپلې زمانې شاعران او دریمه خزانه کې یې زنانه شاعرانې را جمع کړې دي ، نو ښایي چې مولف نور

پخته کارۍ ته تیار نه و. نو د هرې خزانې په سلسله کې یې د انتهايي خامکارۍ د اظهار نه کار اخیستی دی او شاید چې د خامکارۍ دا اظهار بالکل دانسته دی چې څوک دا ونه وایي چې هغه زمانه کې دومره ماهرانه ترتیب څنګه کېدی شو. د خزانو د ننه دا ترتیب نه خو د حروف تهجي په لحاظ دی، نه د علاقو په لحاظ، نه د فضیلت په لحاظ او نه د تاریخ په هغه لحاظ چې عام طور سره یې تولې تذکرې یې تقلید کوي... » (۳٤)

او س نو لوستونکی د تضاد او تناقض اړ خونو ته په سبه ډول متوجه کېدای شي. که محمد هوتک خپله «پټه خزانه» په دې بې جدا خزانو ویشي نو دغه ویش ته د «جدیدیت» نوم ورکوي. آخر خوشحال خان خټک له محمد هوتک څخه ډېر کلونه پخوا پخپله «دستار نامه» کې څنګه لو مړی د سرېیتوب معیار ونه په دوو برخو (هنرونه او خصلتونه) ویشي او بیا یې په منظم ډول شل هنره جلا او شل خصلتونه په جلا او منسجم ډول تشریح او تحلیلوي، په دې کې به هم څوک د «جدیدیت» څرګو ند لټوی! خوکه په تذکره کې بیا څه د اسې برخې

چې د ښاغلي ليکوال او نقاد په نظر د يو پخواني اثر ښې
ښايې تر ې راڅرگندېږي ، نو بيا بل ډول توجهات ترې
کېږي چې گوندې «جوړونکو» دغه نيمگړتيا په خپل کتاب
کې په خبره يا دانسته او اگاهانه توگه راوړې او ځای
کړې ده .

نو آيا دا ډول خبرې په يو علمي او تحقيقي نقد
کې د تضاد او تناقض خبرې نه دی ؟ په يوه علمي موضوع
کې د داسې ډول بحثونو په برخه کې سړی هيڅ نتيجې ته
نه شي رسېدلی .

د تناقض يوه بله نمونه هم راوړل کېږي : د «هېواد»
د کلمې د مانا او مفهوم د تحليل په برخه کې په «پټه خزانه -
في الميزان» کې يو ډېر اوږد بحث شوی دی او د غه
بحث له تناقض ځخه ډک دی ، هېواد ز موږ په کلاسيکو
متونو کې هم د «فاصلې» په مانا راغلی دی او هم د
«وطن» په مفهوم . په پټه خزانه کې هم د «وطن» په
مانا راغلی دی . ښاغلی قلندر مومند غواړي چې جوته
کړي ، په کلاسيکو آثارو کې يوازې او يوازې د فاصلې
په مفهوم راغلی او هم دغه مانا يې سمه ده . خو هغه نمونې چې

خپله قلندر صاحب راخیستي دي ، خپله د دغه نظر ملاتړ

نړکوي چې هېواد د دې یو انې د لرې والي او فاصلې ملنا

ولري . د بناغلي قلندر خپلی یا ورې بېلګې ګورو :

نن مې خړ رنګ هېوا دي اشنا یا دېږي

چې په پر په پر یې یادوم نړه مې خوږېږي

یا د هجري دغه بیتونه چې :

د هېوا د آشنا په سترګو لید ه نه شي

که په خوب راته حاضر شي په کرم دی

یا :

اشتیاق د هېوا دي آشنا غالب شي

په خاطر مې لا ثقیل د هجر باد دی

یا :

شب و روز یې خالي نه یمه له فکره

سوزنده آتش د کن یار په هېوا د دی

تو بنکاري چې دلته هم تأمل په کار دی . دلته هم

هېرا د د وطن ، په مفهوم راغلی دی . کنه د هجري یار او اشنا

له روه پرته په بل کوم ځای کې دی . هغه وایي :

تش صورت مې تقدیر بند که په ډکن کې
تل دنړه په یاد د یارو ته حضور یم (۳٦)

یا: دنړه بانړې تل د روه په زمکه ګرځي
که هجرې په ډکن ناست خالي بدن ګ (۳۷)

او بیا د شمس الدین کاکړ له شاعرۍ څخه د «هېواد» په رابطه دغه دوه بیتونه راوړل شوي دي:

بد نصیب ناسازې چارې په ماوکړې
له نشدوې لرې لرې په هېواد کړم

یا: په هوا مې د کشمیر د تورو ستر ګو
له نړه وویسته نیاز من د خپل هېواد

د شمس الدین کاکړ په لومړي بیت خو ښاغلی قلندر مومند ډېر خوشحاله دی او له شمس الدین کاکړ سره پوره توافق لري، خو د دویم بیت په تشریح کې چې د «هېواد» مانا د قلندر صاحب له نظره په مخالفت کې واقع کېږي نو مرحوم شاعر د نقاد په قول غضب راپارولی او لیکلي یې دي:

« دلته «هېواد» بالکل د وطن معنی کې راغلی دی او شاعر د خپلې معنی او په قول ادب کې د دې تورې د معنی برخلاف استعمال کړې دی او که موږ شاعر سره د ډېره

فیاضي (؟)، کوو او بل کوم الزام (؟) پرې نه لګوو،نودا خوخامخا و یلی شو چې دلته شاعر غلطی فرمایلې ده ، او هسې هم هر کله چې د شمس الدین دیوان د پښتو خزانې د چاپ کېدو نه پس منظر عام ته راغلی دی ، ځکه نو قابل تمسک نه دی .» (۳۸)

عجب ! آخر داولې ؟ ځکه چې د هېوا د مانا په کې د «وطن» په مفهوم هم راغلې ده. د لومړي بیت په مورد کې خو هیڅ خبره نشته خورد و یم بیت له خاطره یې «مرحوم» او «عاجز» شاعر ته پوره قهر را یاربدلی دی ، او لاکه د قلندر صاحب داخبره هم ومنو چې هغه آثار او کتابونه چې د پښتو خزانې له چاپ وروسته چاپ شوي ای منظرعام ته را وتلی دي نو «قابل تمسک» نه دي ، بیا خو نو نعوذ بالله دا دبیا نو په پاران سپیڅلی آثار له هغه وخت وروسته «منظرعام» ته را وتلي او چاپ شوي دي ، حتی زیاتره هغه آثار چې ښاغلی قلندر مومند ترې په «پټه خزانة فی المیزان» کې استفاده کړې ده ، د پښتو خزانې له چاپ وروسته خپاره شوی او «منظرعام» ته را وتلي دي ، هغه به څنګه کېږي؟ آخر داسې آثار به څنګه کېږي؟!

دغه ډول د تناقض یو بل اړخ ته تم کېږو. ښاغلی قلندر مومند په خپل دغه اثر کې له یوې خوا وايي چې د بېتي خزانې شعرونه دومره تنوع هم نه لري چې کوندې یو شاعر دې یې ونه ویلی شي، یا دې یې جوړ نه کړای شي؛ له بلې خوا وایي چې څه داسې نمونې هم په کې شته چې د نورو شاعرانو د شعرونو له محتوی او بڼې سره ورته والی په کې لیدل کېږي، او په زړه پورې خو یې لا داده چې له «پټې خزانې» پرته هم د بېلا بېلو شاعرانو په شعرونو کې د دغه اغېز (تاثیر) بېلا بېلې نمونې ورکړل شوي دي چې خپله موضوع فیصله کوي.

په لومړي سر کې ښاغلی قلندر مومند لیکي:

« د پټې خزانې د دفاع په سلسله کې یوه خبره دا کېږي چې د کتاب د مندرجاتو د تنوع له کبله د یوانسان له پاره دا ممکنه نه ده چې په یوازې ځان دومره متنوع مواد له خپله طرفه جوړ کړي. دا خبره خو اول د منلو نه ده ځکه چې د جعلسازۍ (!) عامو وارداتو کې هم ډېر متنوع کارنامې سرته رسولې شي، خو که دا ناقابل یقین خبره ومنلی شي نو زه په ډېر ادب عرض کوم چې د -

پټې خزانې مواد دومره متنوع هم نه دي چې يوانسان يې له ځانه جوړولی نه شي . »(۲۹)

تر دې ورو وسته د «پټه خزانه - فی المیزان» لیکوال د تنوع د نشتوالي له پاره له یوې خوا او د شاعرانو اثر (اغېز) په باب له بلې خوا څه داسې بحث کوي چې د پورته تأمل غوښتونکی دی :

« د پټې خزانې » دو یمه برخه نمونې د کلاسیکي دورې د غزلونو ده چې عام موضوع یې عشق او تصوف - دی ، د مثال په طور دا نمونې وګورئ :

دليلی د مينې فيض هر سبا وړم
بېهوده منت به ولې د بل چا وړم
بې له عشقه خوشحالي پر ما حرامه
نه «صالح» که په خوله خوښ په زړه ژړا وړم

که په سر د هغه يار د لاسه سنګ خورم
خدای دې نه کا چې به یله خواته ځنګ خورم
نه «رحمان» به خوش وندې په جهان ګرځم
چې په بلو لمبو ځرځ لکه پتنګ خورم

داد واړه غزلې د دولس سیلابیزو مصرعو دي او
د لیکو تکیو تر مینځ یې کم ان کم د سلو کالو فرق دی .
ګویا په دغو سلو کالو کې د پښتو غزلو کې هیڅ فرق نه وراغلی
د صالح له دغه ذکر شوی غزل نه درې سوه کاله (د پښتانه
شعراء د مولف په قول) اګاهو اکبر زمیند اوري په دغه
زمکه کې دا غزل لیکلی و :

چې مدام زه ستا و مخ و ته نظر ورم
د بیلتون له بیرې تر په زیر و زبر ورم
ستا د تورو څڼو خیال هسې طویل دے
تل په زړه کې دغه فکر زه «اکبر» ورم

ص

د میرزاخان انصاري په دیوان کې هم په دې زمکه
کې یو غزل شته چې مطلع او مقطع یې په ترتیب لاندی لیکلی
شی :

چې د یار د مینې خوب په خراب زړه ورم
بیهوده به د نور چا منت په څه ورم
په میرزا، د محبت لمبې چو پیر شوې
په دغه آتش به زړه او مه پاخه ورم

دې غزلونو کې يوازې سيلابيز يووالى نه دى، بلکې
ردیف د غزلو يو د (وي دې نو- «الخ») 

پټه خزانه کې د صالح يو بل غزل هم راغلى دى چې مطلع
او مقطع يې په ترتيب داسې دى:

چې په زړه يې غشى ځرخ شي د چشما نـــو
دوغ به نه شي په دارو د طبيبانــــو
که صالح غوندې د زړه په وينو پاييي
نور دولت په دنيا نشته طالبـــا نو

د پټې خزانې د مؤلف په خيال کې محمد صالح د ١٠١٤هـ
په حدود کې تېر شوى دى، څو لږ ددرې نه سل کاله پس هم په
دې ژمکه کې د پښتو دوو لويو شاعرانو غزلونه ليکلي
دي چې زه يې صرف مطلې او مقطع وړ کوم:

د رحمان بابا د يو غزل مطلع ده:

تاچې رنګ د وينو رکړ و لبـا نـو
اور دې پورې کړ په کور د ميخورانو

او مقطع يې ده:

ستا له غمه په ځان زړه د رحمان سوزي
لکه شمع په زيارت د شهيدا نـــو

هم د رحمان بابا د یوبل غزل مطلع او مقطع ملاحظه کړئ :

چې کوتلي وي په تیغ ستا د چشمانو
سرحلقه وي د جمله وُ شهیدانو

او :

ماسوا له یاره هر چې دي رحمانه!
واړه کفر دی په دین د عاشقانو

د خوشحال بابا زوی او د پښتو یو بل لوی شاعر عبدالقادر خان ختک هم د «صالح» د غزل په زمکه کې غزل لیکلی چې مطلع او مقطع یې داسې دي :

راشه گوره ښند اره د فاسقانو
دم وهي د خدای د خاصو عاشقانو

او :

مرگ یې سل ځله بهتر له حاضرانو
دی بنده عبدالقادر له آ بقانو

یو بل شاعر نجیب (۱۱۷۸ هـ کی ژوندی) د صالح د غزل په زمکه کې درې غزلې لیکلې دي چې نه یې دلته صرف مطلعې او مقطعې پیشکوم ... » (٤٠)

او په دې توګه سناغلي قلندرمومند په دې برخه کې دومره زیاتې نمونې وړاندې کړي دي، چې په حقیقت یې پخپله د خپلو ټولو شکونو د ځواب له پاره دلایل وړاندې کړي دي. د لیکوال د دغو خبرو په باب داسې عرض وړاندې کېږي:

لومړی خو دا چې دغه بېلابېلې نمونې چې سناغلي قلندر له پېښې خزانې څخه را خیستې او بیا یې د نورو شاعرانو په دیوانو کې د ردیف په اساس لټولې او راوړې دي، دومره ډېرې والي هم نه سره لري، یوازې سیلابونه او ردیفونه که څېړل یې په نظر کې وساتو، نو نه یوازې هغه او س په کابل، پېښور او کوټه کې د ګڼ شمېر شاعرانو پر یوانو نمونې وړاندې کړی شم چې نه یوازې سیلابونه او ردیفونه یې یو ډول دي، بلکه دومره ورته والی به سره لري چې د سناغلي قلندر مومند په راغلو بېلګو کې خو دغسې هېڅ ورته والی هم په نظر نه راځي. که د هغه وخت د سلو کلونو په تفاوت کې داسې شک څرګندېږي چې آیا د نوموړي شعر په سلو کلونو کې هیڅ بدلون ونه موند، نو د معاصرې شاعرۍ دا و دا دی د کمپیوټر د دوران، په شاعرۍ کې داسې مثالونه شته

چې که یې و لولې، نو فکر به کوې چې څلورپنځه سوه کاله پخوا کوم شاعر ویلي دي، نو آیا دا به دا مانا ورکړي چې دا شاعري اوس زموږ په دوران کې نه ده شوې؟ دغه ډول مثالونه په هیڅ ډول د پښتو خزانې د "صالح" یا نورو شاعرانو د شعرونو په برخه کې شک نشي پیدا کولی.

دویمه خبره دا ده چې له پښتو خزانې بهر د ښاغلي قلندر مومند له خوا د مثال په ډول د رحمان بابا، میرزاخان انصاري، نجیب، عبدالقادرخان خټک او نورو بېلابېلو شاعرانو په کلام کې (د ښاغلي قلندر په خیال ګډې خواوې او یو د بل په ژبه شاعري (!)) خپله دا موضوع فیصلې ته رسوي. په حقیقت کې ښاغلی قلندر مومند په دغه تناقض کې د خپل شک ځواب هم وړاندې کړی دی. که د "صالح" د شعر ورته بېلګې په دې ثبت جعلي وګڼلی شي چې ګونډې (په هم دغه ژبه) نورو شاعرانو شعرونه ویلي دي، نو د رحمان بابا، میرزاخان، نجیب او عبدالقادرخان په شعرونو کې چې داسې د (ګډو ژبو؟) مثالونه راغلي دي، نو د دغو شاعرانو او دغو شعرونو خبره به څنګه کېږي؟ داسې ورته والی او داسې ګډې خواوې (سره له دې چې د ښاغلي قلندر په راوړو

نمونې کې نه راتړ سترګو کېږي ) خوندیوالې د پښتو په
کلاسیکو ادبیاتو کې ، بلکې د نړۍ د نورو ټولو په شاعرۍ کې هم
داسې زیاتې نمونې شته دي او دا یوه حتمي او منطقي موضوع ده.

په دې توګه ، د ښاغلي قلندر مومند په «پټه خزانه
فی المیزان» کې د تحقیق له پلوه د یادونې وړ نور ټکي هم
شته دي چې مونږ یې یوازې د نمونې په ډول د څو
نیمګړتیاو یادونه وکړه.

ښاغلی قلندر مومند د پښتو مخاص پیاوړی لیکوال
شاعر او نقاد دی. هغه پښتو ادبیاتو ته د ارزښت وړ
کار هم کړی دی او له هغه څخه زمونږ ژبې او ادب ته د
نورو پښتنو خدمتونو او هلو ځلو امید هم کېږي.
خدای دې وکړي چې د غه نومیالی لیکوال د پښتو د
ادبي پښتونو په باب د شکونو د پیدا ایښت او د پښتونو
دویجاړ ولو پرځای داسې اساسي کارونه وکړي -
چې زمونږ ژبه ، ادبیات او اولس اړتیا ورته لري. په
دغو برخو کې د هر اړخیزو څېړنو او پلټنو ضرورت لیدل
کېږي او له بده مرغه زمونږ په ټ به کې او نه مونږ په
ادبیاتو کې دغه ضرورت زیات محسوس دی او ډېر

صمیمانه زیار او د صداقت څخه ضرورت لري. د غو
ضرورتونو ته باید زموږ وتلي او پیاوړي لیکوال له نورو
څخه زیات پام وکړي. ځوان ادبي کول (نسل) به د همدې
له صداقت ډکو هلو ځلو په رڼا کې خپل راتلونکی ادبي او
علمي یون تر سره کوي نه داچې هغوی په کږو وږو لارو روان شي.
"نن" زموږ هڅې باید همدې ته وي او د "سبا" ادبي محاسبه
به بې له شکه چې په همدغه ډول هڅوکېږي. پیاوړی لیکوال
قلندر صاحب د «پټې خزانې» په باب د شکونو په پیدا کولو
پسې ډېر کلونه کرځېدلی او د تحقیق اوږدې ستونزې یې پر
ځان منلې دي، خو که دغه اوږده کلونه د پښتو ادبیاتو
د ناسپړلیو اړخونو په پلټنه او تحقیق تېر شوي وای نو بې
له شکه چې پر ډېر بنیادي او ارزښتمن اثر به را مینځ ته شوی وای د آسي
اثر چې هم به د پښتو په تعمیم او علمي کېدلو کې ګټور وای او
هم به یې د قلندر مومند نوم تلپاتې او "جاویدان" کړی
وای.

# مآخذ او څرګندونې


۱- مومند، قلندر، پټه خزانه فی المیزان، پښتور، چاپ ۱۹۸۸، ۱ هـ مقدمه .

۲- همدغه اثر ، (۱-۲) م ، م

۳- همدغه اثر ، مقدمه ،(و ) م ۰

٤- همدغه اثر ، مقدمه ،(و- ز) م ، م ۰

۵- زرین کوب ، دکتر عبد الحسین ، نقد ادبی ،

جلد اول ، تهران ، ۱۳٦۱ ۰ (۲۷) م ۰

٦- پټه خزانه فی المیزان ، (۱۵۵) م ۰

۷- همدغه اثر ۰ (٤۲) م ۰

۸- ساغر، رومان، پاسته کاڼي ( د ښاغلی قلندر

مومند سریزه ، پښتور، ۱۹۸۸ ۰ (٦-۷) م، م ۰

۹- د ښاغلی رومان ساغر د « پاسته کاڼي » نوم زما

په څانګړي نظر ښکلی او شاعرانه دی ۰

که څوک د رومان ساغر د دغې مجموعې شعرونه

په غوړ ولولي نو دکتاب د نوم په باب به ورته
څه شک او څه نيمګړتيا پيدا نه شي . د روهان
ساغر د دې مجموعې يو ازې دغه څو بيته ګورو :

چې په زړه کې په سينو کې پرانته کاڼي
د احساس په سر مې اوري پاسته کاڼي
د چاسترګو کې کجل دي شپه اوو ځي
د چا غاړو کې غرېږي د را نه کاڼي

پاسته کاڼي (۲۹) م .

او يا دا چې :

د خبرو پاسته کاڼي چې مې خوب کړي
زه هم کاڼي شم سړو نو پسې ګرځم

لازمه ده يادونه وکړم چې د ښاغلی روهان ساغر
له «پاسته کاڼي» پخوا هم په افغانستان کې د وه داسې
شعري مجموعې چاپ شوې دي چې نومونه يې د «کاڼو»
ترکيب لري لکه : «دتيږو په ذهن کې» او « د کاڼو موسکا »

۱۰ - پټه خزانه في الميزان ، مقدمه ، (هـ - و) م - م .
۱۱ - همدغه اثر ، (۲۲) م .
۱۲ - همدغه اثر ، (۳۹) م .

۱۳- پټه خزانه فی المیزان ، (۱۳۳-۱۳٤) م م .

۱٤- همدغه اثر ، (۱۱٤) م .

۱۵- همدغه اثر ، (۲٦۸) م .

۱٦- همدغه اثر ، (۳۱۱) م .

۱۷- همدغه اثر ، (۳٤۵) م .

۱۸- همدغه اثر ، (۱٦۵-۱٦٦) م م .

۱۹- ختک ، خوشحال خان ، د ستارنامه ، کابل ، پښتو ټولنه ۱۳٤۵ ، (۲۲-۲۳) م م .

۲۰- همدغه اثر ، (۷٤) م .

۲۱- هجری ، اشرف خان ، دیوان ، دهمیش خلیل په مقدمه پېښور ، ۱۹۵۸ ، دغه مخونه یې د هجری موضوع په باب په خاص ډول دلیدلو وړ دی : (۵۰۱) (۵۳۷) ، (۵۳۸) ، (۵۷۷) م م .

۲۲- رحمان بابا ، کلیات ، تحقیق ترتیب او سمونه : دوست محمد خان کامل مومند او قلندر مومند ، پېښور چاپ ځای ، ۱۹۸٤ع . (٦۱) م .

۲٤- همدغه اثر ، (۷۹) م .

۲۵- همدغه اثر ، (۹۰) م .

۲۵- رحمان بابا کليات ، ( ۱۰۰ ) م ۰

۲٦- همدغه اثر ، ( ۳۰۸ ) مخ ۰

۲۷- مومند عبدالحميد ، ديوان ، سريزه ، سمون او حرګندوني او لغتنامه د زلمی هیوادمل ، کابل ، دافغانستان د علوم اکادمي ، ۱۳٦۳ هـش ، (۲۲۸) م ۰

۲۸- همدغه اثر ۰ (۳٦۷) م ۰

۲۹- ختک عبدالقادرخان ، ګلدسته ، مقدمه او مرتبه د سید انورالحق ، پښور ، یونیورسټي بک ایجنسي (۷۲) م ۰

۳۰- همدغه اثر ، (۱۰۲) م ۰

۳۱- ختک ، افضل خان ، تاريخ مرصع ، مقابله ، تصحيح او لولګه له دوست محمد خان کامل مومند ، پښور یونیورسټي بک ایجنسي ۰ (۹۹۲) م ۰

۳۲- شيدا ، کاظم خان ، ديوان مع اردو ترجمه وتشريح مرتب ومترجم سيد انوارالحق ، پښور ، یونیورسټي بک ایجنسي ۰ (۸۹٦) م ۰

۳۳- پټه خزانه فی الميزان ۰ (۱۵۸ - ۱۵۹) م م ۰

۳٤- همدغه اثر ، (۲۷۳ - ۲۷٤) م م ۰

٣٥- پته‌خزانه -فی المیزان ، (٥١ - ٥٣) م ٢٠٢ .

٣٦- دیوان هجری ، (٢٠٤) م .

٣٧- هدغه اثر ، (٤٧٩) م .

٣٨- پته‌خزانه‌فی المیزان . (٨٠)م .

٣٩- هدغه اثر ، (٢٧٨) م .

٤٠- هدغه اثر . (٢٧٨ - ٢٨١) م م .

محمد آصف صمیم

# په «پټه خزانه - في الميزان» کې

# تحقیقي خرافات

پیاوړی لیکوال، شاعر او نقاد ښاغلی قلندر مومند د ادب په ډېرو اړخونو کې د پرلاس او رسا فکر خاوند دی. په څېړنه او تتبع کې هم اوږد لاس لري د پښتو د لرغونو او کلاسیکو شاعرانو د ویناوو په رابرسېرولو کې هم د ستاینې وړ سلیقه لري، د رحمان بابا د کلیات (د اروا ښاد کامل په ملګرتیا) د محمدي صاحبزاده او ابوالقاسم د دېوانونو ترتیب او تقدیم یې هم د خوارۍ نتیجه ده.
«د خیرالبیان تنقیدي مطالعه» یې د خیرالبیان تنقیح کړی متن دی او دا دی تر دې ټولو وروستي تحقیقي زیار یې د پښتو پر لرغونو ارزښتمنو ادبي تذکرو «پټه خزانه» د تنقیدي لیکنو هغه مجموعه ده چې لومړنۍ مقاله یې د ۱۹۷۶ کال د مارچ په «پښتو» مجله کې خپره شوې وه.

پر «پټه خزانه»، که د ښاغلي قلندر مومند پرومېنځه

مقاله هماغه د لیکلو پر کال خپره شوې وي، نو د « پټه-
خزانه فی المیزان »، دکتاب کېدو تر وخته (۱۹۸۸)
پورې پورې دولس کاله خوارې شوې ده، چې ریښتیا هم
ستومانوونکې ده او دا هغه خوارې نه ده چې د پټې خزانې
د دویم منتساخ عباس کاسي په څېر یې له « استعجال تمام »
نه کار اخیستی شوی دی او دڅېړنې پر وخت یې ښاغلي محقق
سینه ښه لویه ساتلې ده.

خو له دې تعلې تحقیقي حوصلې، زیار او علمي
کنجکاوۍ سره سره چې د ښاغلي قلندر بارز ممیزات
دي، د خپل تحقیق په ترڅ کې ځینې داسې تېندکونه
هم خوړلي او دومره ښو بیدلی دی چې لوستونکي یې په
اسانۍ منلای نه شي چې کټنې دا به د ښاغلي قلندر رڅېړنه
وي، او په دې ترڅ کې خو کله کله دومره « استعجال
تمام » سکار شوی ښکاري چې هغه د « استعجال تمام » مرتکب
(عباس کاسي) او د هغه د اشتباهاتو مصححینو ته
هم د دفاع او معذرت ضرورت نه پاتې کېږي.

موږ له تحقیقي رموزو او باریکیو سره د بلدو
مبتدي محصلینو او طالب علمانو په توګه دا منو چې -

خېړنه ، پلټنه او تتبع ډېر چينجن او کړوونکی کار دی ، ډېر حوصله ، تأمل او راټول خاطر غواړي او بيا چي خبره د بوره علمي او تحقيقي اثر کتابتی او طباعتی ستونزو ته راشي نو محقق ته بيا د بې ګناهۍ او براءت ورېپراسنتل شي ، خو دا هر څه هله چي محقق ، نقاد او څېړونکی د بل چا پر تقصير او بشري کمزوري خو هم سترګي پټي کړای شي او بشري او فطري نيمګړتيا وي يې عندي او عمدي عمل ونه ګڼل شي زموږ د دې ليکني غرض او غايت چي يکي د بنا غلي محقق تحقيقي تيند کونه ، ښو ېيدلې او تېروتني په ګوته کېږي يواځي او يواځي دا جوتول دي چي :

که ښاغلي قلندر مومند له خدای ورکړي صلاحيت ، سليقې ، فطانت او زياتو مطلوبو وسايلو او زماني فرصت او له علمي رموزو او اصولو سره له بلد تيا سره سره د پټي خزانې نر تأليف تقريبًا درې نيمې پېړۍ وروسته دومره ښو ېيدا ی شي ، نو آيا د پټي خزانې مؤلف او بيا د هغې - فاضل محشي (مرحومان) د غند نې او کږ نې پرځای ستاينه اخلاقي سخاوت او علمي تقاضا نه ده ؟

او که ديوې ژبې او ادب د خواخوږ يو محققينو

د علمي هڅو د درناوي پر ځای د علمي استدلالونو په نامه

د هغوی بې ارزې او بې قدري کوم جا بیزا ومشروع عمل وي؛

نو آیا ښاغلی قلندر مومند د ښې او ادب د یوه خدمتګار

په توګه دا ډاډ لري چې له دوی سره به سبا ېې بیا داسې

نه کوي ؟

موږ د ښاغلي قلندر مومند د علمي حیثیت له درناوي

سره سره په دې هیله د خپل کار د منځ سر راخلو چې داتری

جوته شي چې که د څه کم درې نیمې پیړۍ د مخه لیکل شوی

اثر پر تکذیب (۱) او مجعولیت (۲۷۳) مخه تحقیق

د یوه علمي اثر په نامه را منځته کیدای شي، نو ن هم د

یوه تحقیقي زیار کمزورۍ په ګوته کول د سبانیو له پاره

بې ګټې کار نه دی .

دا دی لیکنه په دغو سرلیکونو کې را نغاړو :

۱- د "پټه خزانه في المیزان" په اقتباساتو کې املایي -

تحریفات او تصریفات .

۲- د اقتباساتو په ښو دلیو محتویو کې تناقضات .

۳- بې بې بله خبره

٤- د مأخذونو د نومونو تحریف .

٥- پایله (نتیجه)

٦- په ټولو ټولو کې یوه کیله.

# د پټه خزانه فی المیزان په اقتباساتو کې املایي تحریفات او تصریفات

د نظم برخه:

پټه خزانه فی المیزان /٤٥ که نڅ دی که په هوادیم
زه د ده په خیال ویادیم

پښتانه شعراء ا ټ /٦٨

که نڅ دي که پر هوادیم
زه د ده په خیال ویادیم

پټه خزانه فی المیزان /٥٤مخ
د مقصود کعبه که لري په هوا د وي
هم ور د رومي که مریي وی که آزاد وي

ګلدسته (د لومړي چاپ ٩٧مخ، د دویم چاپ ١٠٧مخ

د مقصود کعبه که لري په هېواد وي
هم ور د رومي که اصیل وی که آزاد وي

یا دونه : که څه هم دو یمې مصرع ته د سبا غلي قلندر تصرف معنیٰ ورکړې ده ؛ خو د کمې ترمیم د یادونې ضرورت یو ه تحقیقي تقاضا وه .

پټه خزانه فی المیزان / ۵۸ مخ

په خاطر يې د وصال وطن ورېږي
هرچې شپه د جدائیه په هواد کا

دیوان د یوان / ۱۴۷ مخ

په خاطر يې د وصال وطن ورېږي
هرچې شپه د جدایۍ په هیوا دکه

پټه خزانه فی المیزان / ۵۸

د وصال رفيق يې چرته له ماورک که
یکتنها د جدایۍ په هواد یم

د یونس دیوان / ۱۵۵

د وصال رفيق يې چېرته له ما ورک کا
یکتنها د جدایۍ په هیواد یم

پټه خزانه فی المیزان / ٦١

چې د زړه له درده تل ژړا فریاد کړم
هغه تللي هوا دی آشنا را یاد کړم

دیوان بیاض / ١٢٣

چې د زړه له درده تل ژاړم فریاد کړم
هغه تللي هوادی آشنا را یاد کړم

*پټه خزانه فی المیزان / ٦٣

هسې شان کوم فریاد د ستا له درده
چې مې غوږ ځي په هوا د ستا له درده

دیوان نجیب / ٦٣

هسې شان کوم فریاد د ستا له درده
چې مې ځي غوږ په هواد ستا له درده

*پټه خزانه فی المیزان / ٦٣

چې فلک له مانه یار په هواد بېل کړه
معن الله همېشه ناست یم په ماتم کې

د یوان معزالله (دکیدیمحد چاپ ۹۶/ دهیش ترتیب وتدوین۱۳۳۲)

چې فلک له مانه یار په هواد بېل که

معزالله همیشه ناستیم په ماتم کې

* پټه خزانه فی المیزان/۶۴

ته و لاړې هواد دې وطن کړه

هجران دې را پرېښوجې رحم یې نه کړي

د یوان احمدشاه ابدالی/۱۵۷

ته ولاړې هواد دې وطن کړ

هجران دې را پرېښوچې رحم یې نه کړي

* پټه خزانه فی المیزان/ ٦٤

وطوطیانو ورکوي عالم شکرې

دوی راغلي له هوا دهندیان ستا

د یوان احمدشاه ابدالی/ ۸

وطوطیانو ورکوي عالم شکرې

دوی راغلي له هوا د هندیان ستا

* پټه خزانه في الميزان / ٦٦

د توحيد چراغ دې بل دزړه په بام کا
چې له نوره يې غل لرې په هوا دشي

د يوان حافظ / (د ١٩٤٠ کال چاپ) ١٣٢ مخ

د توحيد چراغ دې بل دزړه په بام که
چې له نوره يې غل لرې په هوا رشی

* پټه خزانه في الميزان / ٧٠

هغه يار شه رانه پاتې په هوادا وس
ځکه نه اورې زما دخولې فريادا وس

د محمدی صاحبزاده ديوان / ٢٠١

هغه يار شه رانه پاتې په هواد اوس
ځکه نه اورې زماله خولې فريا د اوس

* پټه خزانه في الميزان / ٧٠

چې مې پرانت زمان ره يې له غمه خلاص که
له هوا ده چې په يار راغی د يار خط

محمدی صاحبزاده / ۲۴۵

چې مې پرانت زمانه يې له غمه خلاص که

له هوا ده چې په مارانې دیار خط

* پته خزانه فی المیزان / ۷۲

قاصد مې تللی هوا دی یار له دی

سبا دي نور خلق کا غم ماخوار له دی

محمدي صاحبزاده / ۴۴۱

قاصد مې تللی هوا دی یار له دی

سبا دي نور خلق کا لوی غم ماخوار له دی

دلته مې تصرف د دویمې مصرع تول وران کړی دی.

* پته خزانه فی المیزان / ۷۲

له هوا دي یار خبر را نغی

محمدی نه به دچا په حسابی

محمدي صاحبزاده / ٤٤١

له هوادی یار نه خبر را نغی
محمدی زړه به دچاپه ځای یي

دلته هم بې احتیاطی دړومبی مصرع پټول زیانمن کړی دی.

* پښه خزانه فی المیزان/۷۳

بیلتونه ته چې د ارنګ تاختونه کړي
آشنا به لري په هوادونه کړي

دقلندر دیوان / ۱۷۰

بیلتونه ته چې د ارنګ تاختونه کړي
آشنا به لېری په هوادونه کړي

پښه خزانه فی المیزان / ۷۵

دچین سپهر ورته سکاره شه له هواده
چې یې وی مانځه وچيتې له آسمانه

شهزاده بهرام او ګل اندامه / ۲۵

د چين بنهر ود ته سرګند شه له هواده

چې يې وې مانند او ځيتي له اسمانه

* پټه خزانه فی المیزان / ۸۰

بد نصيب ناسازې چارې په ماوکړې

له نن دو يې لرې لرې په هواد کړم

د شمس الدين کاکړ ديوان / ۷۷

بد نصيب ناسازې چارې په ماوکړې

له نن دو يې لرې لرې پر هيواد کړم

* پټه خزانه في الميزان / ۸۲

لرې ملک ته په وژتله کله په کار دی

له هيواده د دومي کورته کاروان ژړر

د صديق ديوان / ۱۰٦

لرې ملک ته په وژتله کله يکار دی

له هيواده د دومي کورت کاروان

په دو یمه مصرع کې ترمیم مصرع ته وزن او معنی وربخښلی خو د تصرف توضیح په کار وه .

* پټه خزانه فی المیزان /۸۲

د هواد سفر ترسترګو حمبل زر کا
چې خبر په هغه ، دادی د درویشان شته

د صدیق دیوان/ ۱٤۵

د هیواد سفر تر سترګو حنبل زر کا
چې خبر په هغه ، داوی درویشان شته

* پټه خزانه فی المیزان / ۸۷

واړه ده ته فریا دی وو
د وطن که هوا دی و و

مناقب د فقیر جمیل بیګ / ۱٦۰

واړه ده ته فریا دی وو
دوطن که هیوادی و و

* پټه خزانه فی المیزان ۹۰/

راغی هجران عمر مې ګران شه

له ماروان شه یار په لرې هوادونه

دیوان حسین / ۵۰۸

راغی هجران عمر مې ګران شو

له ماروان شو یار په لرې هیوادونه

* پټه خزانه فی المیزان / ۹۰

زه به کجل په سترګو کښېږدم

که هوادي آشنا مې راشي په پوښتنه

دیوان حسین / ۵۱٤

نه به کاجل په سترګو کېږدم

که هیوادی آشنا مې راغي په پوښتنه

* پټه خزانه فی المیزان / ۹۰

زما په ناپسې ژړا ده

که له هواده دې خدای راولي مینه

دیوان حسین / ۵۱۵

زمایه تا پسې ژړا ده
که له هېوا ده دې خدای راولی مینه

* پټه خزانه فی المیزان / ۱۱۰

چې پادشاه پرې نه کړو هېرې
نه یې زړه باندې شرمېږې

فراقنامه (قامی مکتبه پېښور) ۱۲۹

چې بادشاه پرې نه کړو هېرې
نه مې زړه باندې شرمېږې

البته د کابل چاپ فراقنامه په دویمه مصرعکې د پټه خزانه فی المیزان اقتباس تاشیکوي، خو هغه لکه سنا غلي قلندر چې نه وي کتلې، ځکه یې حواله پرې نه ده ورکړې، حو دخپل ترمیم وضاحت هم نه کوي .

* پټه خزانه فی المیزان / ۱۱۱

دا ست بد دي که یو هېر ي
ما رخصت کړې . که کړ و هېرې

کرسپتو مستی / ۲٦۱

دا ناست بد وې که پوهېږې
مار خصت کړه که ګروهېږې

* پټه خزانه فی المیزان / ۱۱۲

اعتقاد د خلکو سست شو نه ګروهېږي
چې په خټبله خوري واېه دي اسان اوس

دیوان سکندرخان / ۲٤٦

اعتقاد د خلکو سست شو نه ګروهېږي
چې په خپله خوري وایه دي دسان اوس

* پټه خزانه فی المیزان / ۱۱۳

ګل لمبه شه د بلبل په آه رحمانه!
نه ګروهېږي یار په های وهو دستا

درحمان بابا کلیات / ۲٤

ګل لمبه شه د بلبل په اه رحمانه!
نه ګروهېږي یار په های وهوی دستا

* پټه خزانه فی المیزان / ۱۱۵

رقیب کا په ماناسازي صنم هم
نه گروهېږي په مسجد په حرم هم

دیوان نجیب / ۱٦٦

رقیب که په ماناسازي صنم هم
نه گروهېږي په مسجد په حرم هم

* پټه خزانه فی المیزان / ۱۱۵

که گروهېږي هغه یار زما په ویو
ور مجره به کړم د زړه ډېر عجب

دیوان حسین / ٤۵

که گروهېږی هغه یار زما په اوښکو
در مجره به کړم د زړه ډېر عجب

* پته خزانه فی المیزان /١١٦

څه زما دیار تر میان غمازه ګوري
نه ګرو هېږي یکدلان په چوغلی

دیوان حسین /٤٥٩

څه زما دیار تر میان غمازه ګوري
نه ګرو هېږي یکدلان په چوغلي

د همدې غزلې نورې قافیې تسلي ، ستر غلي ، شیخ ملي تلي (دېښو) د بلي ، مصلي ، ولي ، ځنګلي، او تلي (له تول نه) نو ځکه د تصرف یو زیان داهم دی چې قافیه یې بلخوا وړې ده.

* پته خزانه فی المیزان / ١٢٥

دا دنیا څه د استوګې مقام نه دی
ته به څه د پله په سر باندې ولاړېږې

دیوس دیوان /٩٢

دا دنیا څه د استوګې مقام نه دی
ته به څو د پله په سر باندې ولاړېږې(١)

(١) دا مصرع په ٣٥٢ مخ کې په ب "ضمیمه کې سمه شوې ده.

* پټه خزانه ئى الميزان / ۱۲۵

نه شي په يوه خاطر د دوه مينو استوګه
يا به غم د ځان وي يا به مينه د جانان وي

ديوس د بوان / ۲٤۳

نه شي په يوه خاطر د دوو مينو استوګه
يا به غم د ځان وي يا به مينه د جانان وي

د وړومبۍ مصرع تشبث د ځېنو تول هم تکني کړی دی. البته په دويمه مصرع کې تصرف احسن دی، خو وضاحت يې پکار و ـ «۱»

* پټه خزانه ئى الميزان / ۲٤۸

پس له دې به کيفيت د نور و وايم
چې د چا شعر شمشېر د چا خنجر دی

---

«۱» لومړۍ مصرع په ۳۵۳ مخ کې سمه شوې ده، خو دويمه يې هماغسې پرېښې ده.

رحمان بابا ( د دوست محمد کامل مومند، دویم چاپ ) ۲۷ مخ

پس له دیو به کیفیت د نورو وایم
چې د چا شعر شمشېر د چا خنجر دی

* پټه خزانه فی المیزان / ۲۹٤

دوی په ډاډینه سره بالم سره بې روزنکوم
تل یې ورد نه کوم - له ما اتل نسته

پټه خزانه ( عکسی، دویم چاپ ) دمتن / ۱۷ مخ

دوی په ډاډینه سره بام سره یې روزنکوم
تل یې ورد نه کوم - له ما اتل نه سته

* پټه خزانه فی المیزان / ۲۹٤

نن د زماده نوم مې بولي په دریغ ستایوال
په ورځو شپو میا شتو کالو

پټه خزانه / همدا تېر چاپ او مخ

نن د زماده نوم مې بولي پر دریغ ستایوال
په ورځو شپو میاشتو کال

په دو بیمه مصرع کې په تصرف او ناپامه سره دوزن

پر تکمنی کښېدو سربېره قافیې هم سرخوړلې دی.

**دنثر برخه:**

* پټه خزانه فی المیزان/۹۲

... که هرڅو لرې هواد ترمیان وی ...

کریسهومیتی (منتخبات) د پښتو ټولنې د ۱۳۵٦ س چاپ/۱۵

که هرڅو لرې هوا د ترمیان دی

* پټه خزانه فی المیزان/ ۹۳

... له خدایه لرې په هوا د دي

کریسهومیتی/ ۳۸

... په هوا د وي

* پټه خزانه فی المیزان/ ۱۰۸

د وزیر ګل محمدخانؒ د «پښتو سیند» دګروهېدل معنی

داسې کوی: اندیشه کردن ازعقوبت (له عقوبته اندیښنه کول)

«میر دی اکب باندې چې د اظلم کوی نه ګروهېږي

(برین بی چاره که این ظلم را می کنی از روز بازپرس اندیشه نمی نمایی)

دا چاره خو به وکړم مګر ګروهېدم - (این کار را که خواهم کرد

مگر اندیشه می نمایم ، دا مصیبت را پېښ شه لاهم نه گروهېږی.
(این مصیبت برایش مطح داده شد هنوزهم نمی نماید.)

د پښتو سیند / ۱۸۰/ ۱۸۱ مخونه

اندیشه کردن از عقوبت پرډی اکوب باندې چې دا ظلم کوی نه گروهېږی. بر این بی چاره که این ظلم را می کنی از روز - بازپرس اندیشه نیمنایی - دا چاره خوبه وکړم. مگر گروهېږم این کار را که خواهم کرد مگر اندیشه ی نمایم ، دا مصبت ورپېښ شو لاهم نه گروهېږی. این مصیبت برایش رخ داد هنوز هم - اندیشه نمی نماید.

* پټه خزانه فی المیزان / ۱۲۱/ ضمیمه الف/۳٤۸

بعض وایي چې اول حضرت آدم (ع) وه بنا کړی دویمه بنا د حضرت ابراهیم خلیل الله وه چې ثابته پر ایت ده دریمه بنا د قریشو چې حضرت له دوی سره و. دی ...

فواید الشریعت / ۳۱ مخ

بعض وایی .... دویم بنا د حضرت ابراهیم خلیل الله وه چې ثابت پر آیت ده دریم بنا د قریشو چې حضرت ....

---

* د اعبارت د ... فی المیزان په الف ضمیمه (۳٤۸) مخ کی بیا په نسبتًا اصلی بڼه هم را خیستل شوی دی.

* پټه خزانه فی المیزان / ۱۲۱ / ۳٤۸

په مکه کې په هغه وخت کې بی بی عائشه رض ښځې کلنۍ او یا اوه کلنۍ وه - رسول کریم ص چې هجرت وکړو مدینې ته پاک سرور له دنیا تېر شه دا اتلس کلنۍ وه .

فواید شریعت / ۲۱۹

... په هغه وقت کې بی بی عائشه ... پاک سرور چې هجرت وکه و مدینې ته ... پاک سرور تر د نیا تېر شه دا اتلس کلنۍ وه .

که څه هم بنا علی وزّان د عبارت د روانولو هڅه کړی ، خو محذوفی برخی په نه ښودو یې خپل تحقیقی دود شکمن کړی دی .

* پټه خزانه فی المیزان / ۲۲۰

... بی مروته او نمکحرامه دی .

لودی پښتانه / ۱۰۳

... بی مروته او نمکحرامه دی

که څه هم دا تېر وتنه هم د خطاطی غاړې ته ایستل کېدای شي ، خو بیا هم « سبحان الله » کې ورته نغوتې پکار وه .

* پټه خزانه فی المیزان / ۲۰۸

په اوان د حباوت علوم لستلی وو او پخپل عصر په موزونانو او فصحاو علماء د نامه (؟) خاوندوه او په عمر له قندهاره تللی او د ....

پټه خزانه (عکسی چاپ) د متن ۱۰۷ مخ

... په آوان د صباوت یې علوم لوستلي و او پخپل عصر په موزونانو او فصحاو علماو د نامه خاوند و ....

* پټه خزانه فی المیزان / ۲۶۶

.. د غه لار به هم زه درته پیدا کړم یوهسې ملک می لیدلی دی ...

تاریخ مرصع / ۳۵۶

... د غه لار به ... پیدا کړم د ور ونږ د دامان د خوست توری ځائی. د بنو عالم دایه درته واپه رجوع کړم یوهسې ملک می لیدلی ...

سهی د ه چې تاریخ مرصع محذوف عبارت به د ... فی المیزان د سبا علي لیکوال له پاره مطلوب نه و، خو تحقیق دود له مخې د محذوف عبارت ځایونه په نقطو (...) ښکول پکار وو.

* پټه خزانه فی المیزان / ۲۴۳

... نظام پور کی تبر کړه .

تاریخ مرصع / ۴۹۴

... نظام پور کې تبر کړ

* پټه خزانه فی المیزان / ۲۴۴

... داهو مره تلاش چې محض ...

تاریخ مرصع / ۴۹۵

... داهو مره تالاش می هم محض ...

پټه خزانه فی المیزان / ۲۴۵

زما د منصب تجویز ..

تاریخ مرصع / ۵۱۱

دما د منصب

* پټه خزانه فی المیزان / ۲۶۵

... د کابل د صوبې متصدی کړه

تاریخ مرصع / ۳۵۶

... متصدی کړ

* پټه خزانه فی المیزان / ۲۶۶

... د اهسی لښکر خدای ورکړه

تاریخ مرصع ۳۵۷/

... خدای ورکړ

* پټه خزانه فی المیزان/ ۲٦٦

... په غرور د محمد حسین

تاریخ مرصع/ ۳۵٦

... په غرور د محمد حسن

* پټه خزانه فی المیزان/ ۳۵۲

دا د شرکت استوګه په موږ نه شی، ځکه چې با جوړ به یا زمانی

یا د دوی شی .

تواریخ حافظ رحمت خانی/ ٤٠

یا به با جوړ د دوی شی یا به ځموږ شی، دا د شرکت

استوګه په موږ نه شی .

* پټه خزانه فی المیزان/ ۳۵٤

د هغه کسب استوګه د وطن ورته د شوار شی .

تاریخ مرصع/ ٤۲٤

د هغه کسب استوګه د وطن ورته د شواره شی .

* پټه خزانه فی المیزان/ ۳۵٤

په جموکې ځای د استوګی مقرر کړو

تاریخ مرصع / ۴۳۰

په جموکی ځای د اسټوګی مقررکړ

* پټه خزانه فی المیزان / ۳۵۵

استوګه وطن یې په پېښور په باړه بېړ کې وو

تاریخ مرصع / ۶۰۴

استوګه وطن یې پېښاور په باړه بېره کې وه.

* پټه خزانه فی المیزان / ۳۵۵

د اسټوګی خونه به یې د رامود وښووه.

تاریخ مرصع / ۵۶۴

د اسټوګی خونه بیې د رمو دوښووه

# داقتباساتو په ښودلیو مخونو کی تناقضات

په اقتباساتو کې پر املايي تصريفاتو سربېره د اقتباساتو او حوالو مخونه هم د تحقيقي دود پرخلاف غير دقيق ښودل شوي دي ، داسې هم شوي دي چې ديوه ماُخذ پر ۳۲ مخ ورکړې - حواله د هغه ماُخذ (۱) مخ کې وي (چې پر خپل ځای به وښودل شي) داسې هم شوي دي چې دحوالې د مطلوب مخ په مرکبو ارقامو او اعدادو کې د يوه صفر (۰) نشتوالي عددي توپير او تفاوت سلوته خېژولی دی (ښايي دا کاربه دخطاط د استعجال له امله وي خو په سبحان الله کې يې بيا دونه او سمون پکار و) او تر ټولو په زړه پورې خو لا دا ده چې داسې حواله هم ښودل شوې ده چې له سره په هغه ښودلي مخ کې څه چې په ښودلي ماخذ کې شته نه ، چې درانه لوستونکي يې تر "يوه بې بنيا د حواله" تر نامه لاندې لوستلای شي .

دادی د تېر په څېر د ... فی الميزان خپل ښودلي مخ او بيا د ماُخذ داصلي مخ گڼه ښيو :

* پټه خزانه فی الميزان ۷ مخ .

(د هند په کتابخانو کې د پښتو خطي نسخې) پر ۳۲ مخ

ورکړې حواله د همدې مأخذ په ۳۲ مخ کې نه بلکې په (۱) مخ کې ده.

* پښه خزانه فی المیزان / ۱۱۱ مخ

د کلیات پښتو متن په ۲۵۳ مخ کې ورکړې حواله په ۲۵۲ مخ کې ده.

* پښه خزانه فی المیزان / ۱۳۷ مخ

د علیخان د دیوان د دویم چاپ په ۵۲ مخ ورکړې حواله په ۸٤ مخ کې ده او په ۱۳٤ مخ ورکړې حوالې په (۱٦٦) مخ کې ده.

* پښه خزانه فی المیزان / ۱۳۹ مخ

له (مناقب د جمیل بیک) نه د واړو را خیستو حوالو سره (۱٦۰) مخ لیکل شوی، حال دا چې دو یمه حواله په ۱٦۲ مخ کې ده.

* پښه خزانه فی المیزان / ۱٤۰

د نړۍ پانګې په (۷۲) مخ ورکړې حواله په (۷۰۲) مخ کې ده

(لکه چې مخکې ولیکل شول دا به د خطاط له استعجاله وی)

* پښه خزانه فی المیزان / ۱٤۲

د کلیات پښتو متن په (۲۵۳) مخ ورکړې حواله په ۲۵۲ مخ کې ده.

* پښه خزانه فی المیزان / ۱٤۲

د دیوان سکندر خان په (۳٤٦) او (۳۷۳) مخونو ورکړې حوالې په (۲٤٦) او (۲۷۳) مخونو کې دی.

پښه خزانه فی المیزان / ۱٤۲

د یونس د دیوان په ۱٦۷ مخ ورکړی حواله په ۱٦۸م کې ده.

* پټه خزانه فی المیزان / ۱٤۲

د نجیب له دیوانه دواړو راخیستو حوالو ته ۱٦٦ مخ لیکل شوی، حال دا چې دو یمه بیلګه یې په ۲۲٦ مخ کې ده.

* پټه خزانه فی المیزان/۱۷٤

د پټې خزانې (عکسي چاپ) په (۲۱) مخ ورکړی حواله په (۲۲) مخ کې ده.

* پټه خزانه فی المیزان/ ۲۱٤

د تاریخ مرصع په ۲۵۷ مخ ورکړې حواله په ۲۵۸ مخ کې ده.

* پټه خزانه فی المیزان / ۳۵٤

د تاریخ مرصع په ۲٦۷ مخ ورکړې حواله په ٤٦۷ مخ کې ده.

* پټه خزانه فی المیزان په ۳۵۳ مخ کې د تاریخ مرصع په (۱۹۰) مخ ورکړی حواله په هغه مخ کې نه شته او بل ځای ما پیدا نه کړای شوه.

## یوه بې بنیاده حواله:

لکه مخکې مو چې هم نغوته وکړه چې د پټه خزانه فی المیزان په سبو دلیو حوالو کې یوه داسې حواله هم شته چې په سبودلی مخ

کې څه چې ښېځې په هغه سو دلې مأخذ کې نشته . دادی لږ مو وړاندې بيايو:

دېښتی خزانې ښاغلي وزان د «هېواد» د ښېلګو په لړ کې د مياڼعيم له ديوانه (د ښنتواکېډ يمی د ۱۹٦٤ چاپ) د ۸۲ مخ په حواله د پټه خزانه فی المېزان په ۷٦ مخ کې ليکي:

د ده (مياڼعيم) په ديوان کې د «هواد» توری يوځل په دې شعر کې استعمال شوی دی:

ځان جهان مې تمامي له ياده ووت
په هواد تللی آشنا چې راپه يادشه

ښکاريږي دا چې ښاغلی قلندر دغلته دېښتی خزانې د وروستی ښاخ د (استعجال تمام) په ځواب کې تر هغه (محمد عباس کاسی) زيات له «استعجال» نه کار اخيستی دی، ځکه په دې اخيستې بېړه د مياڼعيم دغه ښېلګه او بيا په دې باب د محترم قلندر تفسير، توجيه او تعليل د دوی خپله فرموده (په ادب سره) تر مضحکه خيزه حده بې معنی شوی دی.

خبره دا ده چې د مياڼعيم دغه راخيستی ښېلګه په ۸۲ مخ کې د راغلی غزلې نهم بيت دی چې د مطلع په ګډون يې

قافيې ( باد، مراد، آزاد، افتاد، فرياد، برباد، ياد، اتحاد) دی، البته آزاد او افتاد يکې دوه دوه ځله راغلي دي، او دراخيستې بېلګې اصلي بڼه داسې ده:

خان جهان مې تمامي له یاده ووت
په هوا تللی آشنا چې را په یاد شه

په دې حساب اصلي ټکی (لکه سناغلی ونّان چې يې وايي) «په هواد»، نه بلکې «په هوا» دی چې له سبه مرغه ورته ياس (په اتم) بيت کې هم داسې راغلې ده:

په هوا د تورو زلفو هواګير و
عقل وهوش وصبوري زما برباد شه

او غالبًا د همدې پاسني بيت «په هواد...» ټکي په دښاغلي قلندر سترګو ته له لاندينی «په هوا»، نه «په هواد» جوړ کړی وی، ځکنې په کار خو دا و چې دا اتم بيت يې بېلګه کړی وای.

د «په هوا» ترکيب ښاغلي قلندر دخپل ميزان په (۸۰) مخ کې د شمس الدين کاکړ د ديوان له ۳۲ مخ نه داسې راخيستې دی:

په هوا مې دکشمير د تورو زلفو
له زړه و ياسته نياز من دخپل هېواد

روښاني عارف دولت لوانی هم دغه ترکيب داسې راوړی دی :

پل صراط تر تيغ تېره ، ترشپه تاريک دی
دی شهباز غونډې تېرېږي په هوا ولاړ

(د دولت لوانی ديوان ، د پښتو ټولنې چاپ : ۱۱۸ مخ)

په تاريخ مرصع کې هم دغه شان يو عبارت لولو :
« له هغه ځايه بيا په هوا روان شه » (۵۵۳ مخ)

او س خو به راسره سبا علي قلندر منلی وي چې د « هوا » پربنسټ د « هواد » ، ولاړه ماڼۍ ځومره لوړ بدای شی؟
البته په دې لړ کې له سبا علي قلندر غونډې فاصل نقاد نه دا ټمه ضرورکېږي چې يا خوېې لږ ترلږه د تحقيق دود له مخې سنه په ډ اګه ويلي وای چې تکی خو په اصل کې « په هوا » و حتاً ويلاً تر يې « په هواد » جوړ کړای شو اوکه يې دا هم ذهن نه منله نو بيا به يې خبره په دومره شار بلو ترمضحکه خيزه حده نه يې معنی کوله چې :

په دې شعر کې هم د « هواد » معنی له « لری » نه

بغیر نور څه نه شي کېدای، ځکه چې لکه مخکې عرض شوی دی «په هواد»، د «هواد ته» په معنو کې استعمالول د پښتو د محاورې سره سمون نه خوري او ځکه نو د شعر مطلب دادی چې «په فاصله» (لرې) تللی آشنا چې راته یاد شولو، نو ځان او جهان مې هېرشه» دی شعر کې که د «هواد» معنی «وطن» وکړای شي نو بیا به د شعر مفهوم داوي.

«په وطن تللی (محاوره وطن ته تللی ده) آشنا چې رایه یاد شه نو ځان او جهان مې هېر شوه» په دې صورت کې شعر تر مضحکه خیزه حده بې معنی شي.

بې بې بله خبره

د پټې خزانې سباغلي وژ ان تر «ابتدایي معروضات» لاندې د پټې خزانې د پېژندګلوۍ په لړکې لیکي:

«پټه خزانه د کابل د پښتو ټولنې له خوا په ۱۳۲۳ هـ شمسي کال چاپ او خوره شوه، د ۱۳۳۷ هـ شمسي د لړم په میاشت کې د افغانستان د پوهنې د وزارت د دارالتألیف د ریاست د اکتاب یو ځل بیا چاپ او خور کړه. له دغه پسه د پټې خزانې عکسي چاپ د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د پښتو د تقویې او انکشاف آمریت په ۱۳۵٤ هـ ش کې یو ځل

بیا چاپ کړه او له دې نه پس هم څو څو واري د اکتاب چاپ شه، خو تر مونږ یې صرف دغه دري ایډیشنونه را رسېدلي دي. (پټه خزانه فی المیزان ۱ مخ)

د بنا علی قلندر وینا ده چې له پټې خزانې سره په پوهېدو پسې ځل په ۱۹۴۷ ع کې صنوبر حسین کاکاجي مرحوم هغه وخت بلد کړم چې هغه تازه له افغانستانه راوړې (اوومې چاپ) نسخه را کړه. خو هغه را نه داسې چا یوه چې ترېنه یې هم را نکړه.[1]

مطلب دا شو چې د او وخت له دوی سره یوازې دویم او دریم (عکسي) چاپ نسخې په لاس کې دي، ځکه په ابتدائي معروضات کې یې وویل چې: "... له دې نه پس هم څو څو واري د اکتاب چاپ شه خو تر مونږه یې صرف دغه دري ایډیشنونه را رسېدلي دي." خو ماته د او وخت له دوی سره په موجودو نسخو کې دویم چاپ ځکه بارز ښکاري چې دوی ترې اقتباسات زیات راخیستي دي.

خو له پټې خزانې سره له دې دوه ځلو پېښت کلنو تعلقاتو

---

[1] د ایې لیکونکي تر شفاهي ویلي وو.

سره سره د دویم چاپ چې په ځینو میزانونو کې یې تر ټولو

ځایه اقتباسات راخیستي دي) کال ۱۳۳۷ کښي . د دی له پاره

چې خبره لږه سنه رښه شي اودرا نه لوستونکي د «پېټې خزانې»

ټولې چاپي نسخې وپېژني، د پټې خزانې پر عکسي چاپ د دریمې

طبعې له پاره سی سریزي نه د اروا ښاد پوهاند عبدالحی

حبیبي یو څو خبرې را پښتو کوو:

« لکه په ۱۳۲۳ ش/۱۹۴۵ع کال د دې کتاب د لومړي

چاپ له سریزې چې څرګندېږي ، د دې کتاب خطي متن

د دې کرښو لیکوونکي په ۱۳۲۲ ش کال د جنوب ختیځ کندهار

پښین ناوې نه ( د نوموړاند عالم او د پښتو د نومیالي شاعر اروا ښاد

عبدالعلی اخوندزاده خالوزي کاکړ په لاس ته راسه کړ .)

او په لومړي ځل مې په دري ژبه وژباړله ، حاشیې او تعلیقات

مې پرې وکښل او د پښتو ټولنې له خوا مې چاپ کړه ، په ۱۳۲۹

شمسي کال د پوهنې وزارت دارالتألیف د لومړي چاپ

له مخې کټ مټ (پنځه زره نسخې) د یوه سبکلي دویم ځل چاپ

کړه چې د اوختې یې نسخې نه دي پاتې او خلک یې په لټون

پسې لا لها نده دي . نو د اطلاعاتو او کلتور وزارت د

پښتو د پرمختیا آمریت یې بیا دریم چاپ لاس

پوري کړې.(۱) په ۱۳۵۶ ش کې د کابل پوهنتون ادبيا ستو پوهنځۍ په څلورم ځل له پاسي ترجمې، حواشيو او تعليقاتو سره د دريم چاپ د مقدمې له پښتو ترجمې سره چاپ کړه (۲) او وروستی ځل ښاغلي قاسم بنوي تېر کال په پېښور کې هماغه څلورم چاپ بيا تکثير کړه.

ما ته د ښاغلي قلندر مومند د «ابتدايي معروضات» د لوستو په ترڅ کې د پښتو خزانې دويم چاپ ته د ۱۳۳۷ ش کال د ليکلو پر وخت يو نه توجيه کېدونکی خيال ځکه را پيدا شو چې:

پوهېږم را ته په تحقيقي چارو کې د ښاغلي قلندر هغه د وسواس ترحده احتياط را ورخته شو، بل خوا به را ته دا خيال را پيدا شو چې پر طباعتي چارو د پرون په ترڅ نه دي په کار، کېدای شي چې پر کومه چاپي نسخه ۱۳۳۷ ش هم ليکل شوې وي، بيا به مې دا ذهن ته راغله چې که ښاغلی قلندر د (۱۳۳۷) او (۱۳۳۹) ترمېنځ فرق ته قايل نه وای، نو محمدهوتک

---

(۱) د دريم چاپ سريزه، ۱ مخ.

(۲) د محمدهوتک ژوند او مزار، د زلمي هېوادمل په زيار - ۱۳۶۲ ش ۳۲ مخ.

به بې په همدغه بې احتیاطیو د طنز او خندنیو ښکاره کېدای نه.
او چې پر دې یوه هم قانع نه شوم، نو همدا را ته غوره وبرېښېده
چې راشه وخوېږې لیکه، که تېر وتې وي ښاغلی قلندر لوی
سړی دی، همېشه یې له علمي لوړونو برخور شوی یې، و به
دې بخښي او که خدای مه کړه تېندک یې خوړلی وي،
ازاله به یې وکا. اعتراف چا شکست ګڼلی دی؟

## د مأخذونو د نومونو تحریف

د تحقیق او څېړنې علمي نړۍ د دا هم دی چې د یوې تحقیقي
مطلوبې موضوع د لا پخلي او د وثوق له پاره محقق د خپلو
مأخذونو اکاډیمیکه پېژندګلي او د نومونو دقیقه معرفي
وکړي، له بده مرغه د ښاغلي قلندر د څېړنې په نرخ کې په
دې لړ کې هم ناپامي او بې اعتنايي شوې ده چې د دې ناپامۍ
په زیان لوستونکي په تېره بیا مبتدي محصل او طالب علم
هغه وخت پوهېږي چې د یوه مأخذ څو څو ځایه لټونه
وکړي، ځکه لوستونکي ښودلي مأخذ ته د مراجعې په صورت کې تمکني
شي. دغه راز بې غوري او تن اساني د محقق پر علمي
حیثیت د اعتماد پر کمولو سربېره د لوستونکي وخت هم وژني.

موږ د لته په پټه خزانه فی المیزان کې یو مبی د مأخذو لو

اړ ول شویو نوموړو ته مخامخ د هغو مخونو شمیره لیکو چې

دغه نوموړنه پکې راغلي دی او بیاد مأخذ اصلی نوم :

* د هند په کتابخانو کې د پښتو د قلمي نسخو فهرس ۳۷۲/۷

* د هند په کتبخانو کې د کتابونو فهرس / سبحان الله/ ۲مخ

د ادهغه کتاب دوه نوموړنه دي چې مناغلي لیکوال زلمی هیوادمل

په زیار د افغانستان د علومو اکاډیمی پښتو ټولنې له خوا

„د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې „ په نامه په ۱۳۶۳ ش کې

چاپ شوی دي. د کتاب په دویم ټوک پر پورتني نامه سربېره

ورسره د اهم لیکل شوي چې : یا د هند د ځینو کتابخانو د پښتو

خطي نسخو فهرست „ خو په هیڅ ځای کې ورسره په پټه خزانه

فی المیزان کې یاد شوي نوموړنه یا عبارات نه دي لیکل شوی.

او په نږه پوري خولا داده چې د ښاغلی هېوادمل د دغه مطبوع

اثر معرفی د ښاغلی قلندر د مېزان د ( ب اشاریه ) د قلمي

نسخې په لړکې راسې شوې چې لوستونکی ترې دا تأثر اخلي چې

ګواکې ښاغلي قلندر له چاپ نه مخکې د ښاغلي هېوادمل له قلمی مسودې

نه استفاده کړې ده. یعنی کتاب د ببلیوګرافی (کتابښود)

تر „ق „ ردیف لاندې معرفی شوی دی چې له تحقیق دود نه

یو ښځ کند سرغړاوی دی .

* د اشرف خان هجری دیوان / ۱۳۶ اصل (دیوان هجری) د همیش خلیل په سریزه - د ۱۹۵۸ ع چاپ .

* دنجیب دیوان (۱۳۶ / ۱۳۷ / ۱۴۲) اصل د دیوان نجیب ترتیب، تدوین او دیباچه خیال بخاری، پښتو اکیډیمی، پېښور یونیورسټی، اول ځل : ۱۹۷۲

* دبیاض دیوان (۱۳۷ / ۱۴۲) اصل دیوان بیاض - مؤلفه مولوی محمد ایوب / ۱۹۵۲ .

* دیوان دعلی خان (۱۳۷ /) اصل دیوان علیخان - شرح و مقدمه پروفیسور سید محمد تقویم الحق کاکا خیل، پښتو اکیډیمي، پېښور یونیورسټی، دویم چاپ ۱۹۸۸ ع .

* دیوان د پیر محمد (۱۳۸) اصل د پیر محمد کاکړ دیوان سریزه او تعلیقات عبدالروف بېنوا، ۱۳۳۵ ش، پښتو ټولنه .

* د مصری خان ګګیانی دیوان (۶۸) اصل دیوان مصری خان ګګیانی، مرتب سید خیال بخاری، پښتو اکیډیمی، پېښور یونیورسټی ۱۹۵۹ ع .

* دمعز الله خان دیوان (۱۳۷) اصل دیوان معزالله خان مهمند، ترتیب او تدوین خیال بخاری، پښتو اکیډیمی، پېښور یونیورسټی ۱۹۵۸ ع .

* د احمد شاه بابا دیوان ۱۳۷/ اصل دیوان احمد شاه ابدالی، ترتیب او تدوین قاضی هدایت الله، پښتو اکیډیمی ۱۹۶۳

* دیوان د حافظ الپوری (۱۳۸/) مکمل دیوان حافظ الپوری، د قاضی محمد عبد السلام زیارتی په حاشیه ۱۹۴۰ ع

* دیوان د میانعیم (۱۳۸/) اصل دیوان میا نعیم، دیباچه، ترتیب او تدوین: خیال بخاری، پښتو اکیډیمی، پېښور یونیورسټی ۱۹۶٤.

* د حسین دیوان/ ۱۳۹/ ۱٤۲= دیوان حسین، مرتبه همیش خلیل، ۱۹۵۸ع.

* د خواجه محمد بنګش دیوان/ ۱٤۲= دیوان خواجه محمد بنګش، ترتیب او تدوین: خیال بخاری، د پښتو اکیډیمی پېښور یونیورسټی، ۱۹۶۵ع.

* د سکندر خان دیوان/ ۱٤۲= دیوان سکندر خان خټک ۱۱۲/ ۱۳۶= دیوان سکندر خان

مقدمه: دوست محمد خان کامل مومند، اداره اشاعت سرحد دویم ځل: ۱۹۶۲ع.

* شاه ګدا/ ۱٤۲= قصه شاه و ګدا- مرتبه همیش خلیل ۱۹۵۷ ع.

* ژوندا و مزار ( د محمد هوتک ) ( هوا د مل ) ۳۷۰/ = د محمد هوتک ژوند او مزار ، زلمی هېوادمل ، د باېزيد روښان پوهنتون ، ۱۳۶۲ هـ ش .

* گلدسته د سعدی د گلستان ترجمه / ۱۳۶ = گلدسته ، پښتو ترجمه د گلستان سعدی ، پښتو اکيډيمی ، پېښور يونيورسټي ۱۹۶۱ او ۱۹۸۱ ع چاپ بوله .

* الف ليلیٰ / ۸۹/ ۱۳۹/ ۳۶۸

دا د هغه مشهور نړيوال قصصي ادب يو شهکار دی چې له بده شامته زموږ په ځينو ادبي حلقو کې يې نوم په يوه بې معنی ترکيب او بڼه دی . د الف ليلیٰ ) د دې له پاره چې هم درانه لوستونکی د کتاب په اصلي نامه او کيفيت خبر شي او هم د يوې ستر ې ادبي تېروتنې ازاله وشي ، لږ تر لږ غځېدلې غزيږو :

الف ليلة و ليلة د ختيځ ( مشرق ) يوه ډېره خوږه او مشهوره کيسه ده چې د ليک د دقيق تاريخ خو يې جوت نه دی ، خو همدومره څرگنده ده چې د کيسې پېښه د ختيځو سيمو د يوه پاچا په دربار کې پېښه شوې ده ، او له چين نه هند ته راوړل شوه او بيا يې په لږ و ډېر بدلون سره

نوم په افغانستان، فارس، عربو او اسلامي نړۍ کې خپور
شو او د هر اولس ادبیاتو کې د خپلې خوښې کمونې او زیاتونې
وکړې. د کیسې محور او منشاء ښځې ورکه ده، خو خیالي قوت
او ادبي ارزښت یې کړ دې نړۍ منلی او ټولو ژوندیو ژبو
ته ژباړلی دی.

د کیسې د رامینځته کېدو عامل دا گڼل شوی چې د هند یو
پاچا میینې تېر ایستی و او پر ښځو بې باوره شوی و، هره
شپه به یې نوې ناوې واده کاوه او سبا به یې وژله. په لږ
موده کې په ښار کې نجونې اندېښمنې شوې، وزیر ته یې امر وکړ
چې هله غوره مې سر ول غواړې، مجبور وزیر سخت-
تر ور او وارخطا شو، په کاله کې یې یوه هوښیاره لور
وه، د پلار له پاره یې له پاچا سره شپې تېرولو ته غاړه کېښوده
خو خپلې وړې خور ته یې وویل: زه به دې نیمه شپه وغواړم
او ته به له را تک سره د یوې کیسې د اورولو غوښتنه وکړې، د
وزیر لور د پاچا ماڼۍ ته بوتلل شوه، د پاچا له سره خلوت
نه مخکې د وزیر لور په ژړا شوه، پاچا ترې پوښتنه وکړه:
نجلۍ وویل زما یوه خور را نه پاتې ده له هغې نه بې برخې
راغلم. پاچا د وزیر کشرۍ لور راوغوښته، هغې له-

راتګ سره له خوند نه دکیسې داوروالو ټینګار وکړ، خوړېږي دپاچا په اجازه یوه کیسه شوروکړه چې یوله پاسه زرو شپو کې ایله پای ته ورسېده او داسې دکیسې نوم په عربي ژبه کې الف لیلة ولیلة شو.

( آریانا دایرة المعارف (پښتو) ٤ ټوک/۱۳٤٤ش ۵۸مخ لنډیز )

له دې دومره تفصیل نه مراد دادی چې ښاغلي محترم قلندر ته هم د (الف لیلة ولیلة) تاریخیت او پس منظر همدومره څرګند و او دا یې هم ورته پته وه چې ملا نعمت الله دکتاب اصلي نوم اړ ولې دی نو له عربي ژبې سره یې دخپلې بلدتیا په رڼا کې باید ورته نغوته کړې وای چې (الف لیلیٰ) یو بې مفهومه او بې معنی ترکیب دی چې هم د ملا نعمت الله د ژبارې تصرف جوت شوی وای او هم نمونه ددې څوا دحېنو لیکوالو او لوستوالو له ذهن نه د (الف لیلی) پیری یا ځېدلی وای.

## پایله (نتیجه)

د درانه لیکوال قلندر مومند دتحقیق اثر "پته خزانه فی المیزان" له شبهاتو او شکونو سره له اختلاف سره سره

دغه اثر په پښتو ادب کې پر متنازع اړخ یو زیاتوب دی ،
ځکه دوی په خپل دغه زیار سره که له یوې خوا ادبي او تحقیقي
متنازعاتو ته لاره اواره کړه نو له بل پلوه یې د پښتو ادبیاتو
د تاریخ زده کوونکیو او محصلینو ته د پټې خزانې د تائید او
تردید پر استدلال د حکمیت او قضاوت مخه هم ورکړه ، د
پټې خزانې » له وجود ته راوړونکي خبرو څوانانو ته یې د پټې خزانې
د کتو او لوستو بلنه ورکړه . یا نې شوه د دوی د خپل قضاوت
د وزن او پخلي خبره ، نو دا خو به د سبانی کول ځمنه ا و
ذمه واري وي چې د یوې ژبې او ادب د تاریخ د اثبات او
رڼولو کار او یا د هغې ژبې پر ادبي تاریخ د نفي ګوتې ایښودل
او وربانديې شک دیوه یا دوو کسو و سره چار ګڼي اوکه نه ، دا
د اولس او نسلونو د نده بولي ؟
خوځو مره چې « پټه خزانه فی المیزان » له تحقیق او تخنیکي
دود سره زموږ په نظر پوره برابره لري ، نو په دې لیکنه کې
موږ د چا د « نیت » د ځرګوالی له ویرې پر ته له هغه څه نه پر ته یو ته
کړو چې ښاغلي قلندر مومند د تحقیق زیار سر سري توب یې
جو تا وه او دا هم په دې هیله چې که خدای عمر ورکا او بیا
یې همداسې څه لیکل نو چې د بل چا د تیروتنو او اشتباهاتو

په رابرسېره کولو کې دې احتیاطي او ناپامۍ پرځای په خپله له دقت او احتیاط نه کار واخلي .

د خپلې دې لیکنې د را نغاړلو پر وخت او دلیک تر پایه رسولو وروسته چې ماته د فاضل قلندر مومند په ځېړنه کې کومې کمزورۍ او تخنیکي نیمګړ تیاوې رابرسېره شوې، هغه را ته د درېو وجوهو او عواملو زېږندونه ښکاره شوې :

رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِن نَّسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا

الف : محترم قلندر مومند خپل کتاب اد بي شهرت په دې مغالطه کې اچولی چې زه خو چې څه لیکم، هغه خو ما ته او سه د خپلو حواریو نو په دا د دکانۍ کړنبه کتلی او بیا چې لا له چا نه پر خپل «بیت» باندې د «حملې» د بندیز په نامه د اظهار نظر حق هم واخلم، نو بیا به څوک څنګه دا جرأت کوي چې زما ښاغلي ناښاغلي وکړي؟ خصوصاً چې دخدای په مخکې یې د «ځواب په ورکولو» هم تهدید او انذار کړی.»

ب : بل څه چې د بېتې خزانې ښاغلی وزان یې د دوی په خپله اصطلاح د لوستونکیو «تدلیس» ته اړ ایستی هغه د دوی په لاس کې د پراخه مراجعو او مآخذو موجودیت دی، په دې معنی چې ښاغلي دا يې کتلې وي چې پر ما د دوی

پر یمانه منا بعو د پهما » د اسیوری بویه که پر بل چاو شي

چې بیا را سره سپینا وی علمي ضرورت وګڼي .

ج : دربیه غلط فهمي او سوء تفاهم چې محترم قلندر

مومند یې په خپله تتبع کې تعمق او تل ته په ورکونیدو نه

دی مجبور کړی هغه دا دی چې » له پوهې سره سره « ورته

دیوه قوم دژبې او ادب بنیا دد « پیټې خزانې » غونډې یوه

اثر په موجودیت او نه موجودیت پورې تړلی ښکاره

شوی . ګڼي که فرض کړو محمد هوتک او پوهاند حبیبي

( مرحومان ) پر سبا غلي قلندر مومند د خپلې پټې خزانې

دوجود په منلو کې یا نې راشي ، یا راغلی وي ، نو پښتون

قوم ، پښتو ژبه او ادب به ګڼې د نړۍ له ملي او ادبي لیکنو

ووځي او یا که محترم قلندر مومند پر خپلې هڅې ( د محمد هوتک

پوهاند حبیبي او پټې خزانې پر تکذیب ) بریالی شي نو

پښتون اولس ، پښتو ژبه او ادب به د نړیوالې ملي ودو

څخه سیال شي .

## په تلو تلوکې یوه ګیله :

د خپلې لیکنې په پای کې چې له محترم قلندر مومند

نه کومه ګیله رانه د لته د خرګند ولو وړ ښکاري ، هغه

راده چې :

„ د دوی موقف خو تل دا و چې هغه قومي مصلحت چې د انتقاد نه اوچت وګڼلی شي، په حقیقت کې د قومي مفاد اتو خلاف وي او خپله رأیه د څه نام نهاد مصلحت تابعه هم نه ساتي „ خو اوس ولې بیا هم د خپل اثر „ پښتو خزانه فی المیزان „ په ابتدایي معروضات „ کې د هغو ورونو د نوموړو پر سپړونه مصلحت ګڼي چې له دوی سره یې په افغانستان کې د پښتو خزانې د صحت په حقله د شکوکو د ښکاره کولو په سلسله کې „ بحث „ د قومي مصلحتونو خلاف پرېوسه او عمل کانه „

اخر دا مصلحت ولې د قومي مفادا تو خلاف نه ګڼي او په دې لړ کې خپله رأیه ولې د نام نهاد مصلحت تابعه ساتي ؟ او که نه هغه خلک لا وفات شوي نه دي او که وفات شول، نو بیا خو په مړو پسې هر ډول خبرې کیدای شي.

د پټه خزانه - فی المیزان»
دیوشک په خوب کې

نذیر الله څرګند

# هغې څنګه په بېچاپور کې بندي نه و؟

په «پټه خزانه - فی المیزان» کې ډېرې داسې برخې شته دي چې په خاص ډول د تأمل او غور وړ دي. ښاغلی لیکوال قلندر مومند د پښتو ادبیاتو د ځینو داسې ماخونو په باب هم شکونه څرګند کړي دي چې په لوستلو يې سړي ته تعجب پیدا شي. دا هغه ډول مسایل دي چې دا وړدو او دقیقو څېړنو په رڼا کې يې بحثونه شوي او د غه ډول بحثونو يوې نتیجې ته رسېدلی دي، خو بیا هم ښاغلي نقاد د نوې خبرې پکې را برسېره کړې او نوي شکونه يې پکې پیدا کړي دي. دا د بیا تو د تاریخ د څېړنې او تحلیل په بهیر کې که رښتیا هم یوه نوې خبره وشي او نوی څرګنه ښکاره کړی شي نو دا یو ارزښتناک کار دی، نه داسې چې یوه د قیقه او رښتینې مسله بل ډول څرګنده شي. زه دلته د دې کتاب د یوشک خوب ورلندی کوم، دا څنګه چې که د داسې شکونو او «تنقیدونو» خوب و نه کېښل شي نو د ډېرلوستونکی او

په تېره بیا د پښتو خوان ادبي نسل (کول) به په شکونو او کړ لیچونو کې پاتې وی، او ډېرو سمو ته به دناسمو خیال کوي.

نومیالی لیکوال او نقاد ښاغلی قلندر مومند د – «پټه خزانه – في المیزان» په یوه برخه کې د اشرف خان هجري په باب یو اوږد بحث کړی دی. دغه بحث په دې رابطه رامینځته شوی دی چې آیا هجري ته په دکن کې د رحمان بابا شعرونه رسېدلي دي او که پخوا یې – (په وطن کې او هغه وخت چې د مغلو په زندان کې بندی نه و) له دغو شعرونو سره آشنایي لرله، چې څه داسې وینایې کړی ده:

د رحمان په ویل ځای د لقب نشته
چې یې ما شعر منظور کړ معتبر دی

هغه غواړي، د اجوته کړي چې دا ډول شعرونه وروسته دکن ته، هجري ته رسېدلي دی، او دا هغه وخت دی چې خوشحال خان خټک وفات شوی دی.

دغه بحث په ځانګړې توګه دا روا ښايي د استاد کامل مومند د څېړنې د نقد په لړ کې وړاندې شوی دی. په همدغه

سلسله کې سباغلي قلندر مومند غوښتي دي چې ښځې يو ٥ نوې خبره وکړي . د هغه په خيال اشرف خان هجري يوازې په «ګواليار» کې بندي و ، نه په دکن او بيجاپور کې، بلکه هلته د مغلو په کوم منصب لګېدلی ؤ ، خو وطن ته د راتګ اجازه يې نلرله(٩)

زه نه غواړم ، په دې ځکي دلته بحث وکړم چې د رحمان بابا د زوکړې يا مړينې د نېټو په باب چا څه ليکلي او لا تر اوسه پورې په دې باب د ليکوالو او څېړونکو ترمنځ کوم کوم اختلافونه شته دی؟ نه غواړم په دې ځکي بحث وکړم چې د عبدالرحمان بابا شعرونه به په ګواليار يا بيجاپور کې هجري ته رسېدلي وو، که پښتوا به يې ليدلي وو؟ دا يو جلا بحث دی او زه دلته ترې تېرېږم ، خو د سباغلي قلندر مومند د شک هغه اړخ ته په ځانګړي ډول تم کېږم چې ګوندې اشرف خان هجري په بيجاپور کې بندي نه و . په لومړي ګام کې ځکه د دې اثر د دغه « شک » د ځواب کښل غواړم چې د اشرف خان هجري د ژوند له بېلا بېلو اړخونو سره ځاصې علاقمندی څو کاله د هغه د ژوند او شعر په باب له څېړنو سره نږدې ساتلی يم . څو کاله مخکې مې د هجري د ژوند

او شعر په باب یو کتاب « د ز نخیر و نو شا عر- اشرف خان هجری »

لیکلی او چاپ کړی دی او کله چې می په پښتو خزانه - فی المیزان »

کې د دغه بحث ترنظره شو ، تعجب مې لا زیات شو . سره له دې

چې په بیجاپور کې د هجری د بند بیتوب یا نه بند بیتوب موضوع

د ښاغلي قلندر مومند په یاد شوي کتاب کې په ضمنی توګه

راغلې ده ، خو هغه دومره او ږد بحث پرې کړی او دومره

زیات دلایل یې راوړي دي چې که څوک د هجري د ژوند

او آثارو هر اړخیزه او دقیقه مطالعه ونه لري او په دې

برخه کې یې ښې نه وي کړې ښایي هغوی هم د اسې فکر

وکړي چې هجري رښتیا هم په دکن کې بندي نه و ، بلکې

له خپل وطن تښتېدلی و .

د موضوع د ښې روښانتیا لپاره به لومړی د ښاغلي

لیکوال قلندر مومند خبرو او دلایلو ته تم شو ، هغه

لیکي :

« زما استدلال دا دی چې وړومبی خو دا ثابته نه ده

چې اشرف خان هجري لکه چې عام طور سره ګڼلی شي په دکن کې

بندي و ، تاریخ مرصع د ګوالیار د بند په زمانه کې اشرف خان

هجري بندي ګڼي ، خو د اشرف خان د بر هغه شعرو نه چې

هغه په دکن کې لیکلي دي دا نه څرګندوي چې هغه بندي و.
د مثال په طور دا څو شعرونه پېش کوم:

رب دې ورک آتشین غږ د دی سرناکا
دم په دم ومرده غم راته احیاء کا

بېجا پور لره چې راغلم که مې غور کړ
دلې هم هغه فغان دی چې یې داکا

- د وطن عیش وهوا به مې هېر نشي
بېجا پور که راته ډک همه په زر کا

- غم به هومره دلیري په هجري نه کړه
که یو ګل د یار په رنګ وای په دکن کی

- نیرنګی د جهان ګورئ زمانیو
د هجري مکان دکن جان په کابل شه

- زه هجري دایم هوس د خپل وطن کړم
بېجا پور که همه ګل هجري ته کاغ دی

- زه خټک ئ په بېجا پور آشنا په روه یی
ولایت مو سره اې د هندوبار دی

- چې هجري غوندی جداوي له یارانو
که پادشاهي په دکن عمر یې خوار دی

- یاره ذوق په روه کړه په دکن خوښ یم
نه مې تن لره شکوه نه دې دا کار دی
- یار مې پاتې په وطن زه په دکن شوم
- اوس به یار نسیمه بل په بېجاپور کې
- که هر څو په دکن ډېرې دي دلبرې
هجري نه په غوره ونیوی ګوهرې
- چې په مهر مې تل یاد کړی مګئ دی مه وائے
لب شکرې، سیمین برې، موکمرې

ص

له دې شعر و نو نه صفا ښکاري چې اشرف خان هجري ته په بېجاپور کې صرف يو تکليف وُ چې د روه ياران ترې جدا وو او د هغوی په ځای ده په دکن کې دوستان، ياران، بلکې محبوبې (!) پيدا کړې، نو بيا دکن او بېجاپور « همه ګل» او د هجري « مکان » شاه .

انصاف په کار دی چې د هجري دې شاعرۍ کې د خوشحال بابا د فراقنامې څه روح شته دی چې د خوشحال بابا دی يو شعر :

ننګيالي قبلوي ګور ګور خونه وي رن تن بور

کې چې وهي . » (۱)

د د غو څو ګنډونو په باب د محترم ليکوال قلندر مومند حضور ته عرض دی چې يو څو دغه بيتونه په هيڅ ډول ددې تر ديد نه کوي چې هجري دې په بيجاپور کې بندي نه وی. آخر شاعر په زندان کې هم شاعر دی. په زندان کې هم تصور او تخيل لري، په زندان کې هم د ميني تصور کولی شي او دغه ډول شاعري يې له وطن څخه لېرې په زندان کې کړې ده.

دا چې ښاغلی قلندر مومند وايي چې د هجري په شاعرۍ کې د خوشحال بابا د فراقنامې روح نشته، نو ښکاره ده چې د هجري په ديوان کې يې يو ازې هغه څه لوستي چې د اشرف خان لپاره يې هلته په بيجاپور کې صرف يو تکليف توجيه کړی دی، که داسې نه وي، نو په دکن کې، په همدې بيجاپور کې ويلی د اکلام د چا دی؟ چې:

غمه لرې په ګرېن د روم له ما نه
ګنهه اوس به دې سرغوڅ شي تر زمانه
ستا بنيا د يې د بهو په غشو غوڅ کړم
برابه په خوب راغلی وه مستانه

تورې سترګې يې لا تورې ترکبلي وې
په چهره دګل ترمخ ده بره خندانه
په و يسبود يدن محال دی شکر شکر
چې په خوب رالره راغله ناګهانه
مبارکه داګړی ميمو نه شپه ده
چې دغم په کورمې ته شولې مهمانه
هغه لار به مصفا کړم په مژګانو
ته ملوکه چې پرې راغلې تر زندانه
در په درمې ستا دحسن جور ه غوښته
دکن ګل ځنې خالي تر هندوستانه

ص

نو آيا دا شعرګني هجری په ګواليار کې ويلی دی چې د زندان څرګندويا دونه يې پکې کړې ده؟ دا دکن شاعري ده او په زندان کې د يو خوب تصوير دی. دغه رانجري وايي:

خټک ناست په بيجاپور مهر په لبو
بازيګر فلک د لوبو تماشا کا

په آوازي غزلري دروه بلبلو
په دکن د حال قصه هجري طوطا کا

ص

نو آیا دغه «په بیجاپور کې ناست مهر په لبو» دیوه زنداني آواز نه دی چې بازیګر فلک پرې یوازې د خپلو لوبو ننداره کوي؟ خو که داهم یوې خوا ته کړو پخپله د قلندر صیب راوړې بېلګه په دکن کې د هغه د بند یتوب یوه ښېره سنه بېلګه ده، خو د لته د هجري هغه بشپړ شعر (غزل) را خیستل کېږي لازمه ده چې د «شک» او نقد په وخت کې یوازې دغه بشپړ غزل ته پاملرنه شوې وای. داځکه چې یوازې په همدغه غزل کې چې هجري د بیجاپور په زندان کې ویلی دی او د رنتښود د فراقنامې په څېر یوه لوړه نمونه ده، هم دده د شکمن تول ځوا بونه پراته دي:

رب دې ورک آتشین ژغ د دی سُرناکا
دم په دم د مړده غم راته احیاء کا
په هر لور چې یې له قریه مسافر شوم
راته او ر هغه مکان په ژړا بیا کا

په ګرګه کې یې له قربه ګرېږان وم
ماوې ګوندې مې ترې بېل څرخ د سما کا

بېجا یور لره چې راغلم که مې غوږ کړ
دلې هم هغه فغان دی چې یې داکا

زه لمبه دهجر مړه کړمه په او سکو
دایې بیا راته پوکي سرې سبا لاکا

ما په دېره ناله نو دصورت وچ کړ
لامې هم چې بانه وچ ویني غوغاکا

یا جدا ده له یارانو پسې ژاړې
لازما په حال خبره شوه ژړاکا

چې یې غوږ زه په مضمون د آواز وکړم
واره یو په یو بیان قضیه زماکا

ما چې راز دحقیقت له شا یه غوږ کړ
څوک به خرنګ له یاره طمع وفاکا

که یودم وصل دیار چاته موجود شي
هغه دم یې بیا ګردون سره جداکا

هجري ته بانه وچ مه لره چې خوږ یې
ستا په روغ وګري څه دي که خنداکا

او که څوک د درد بدلي شاعر د غه زنداني فریادونه

هم د زندان د بد مرغیو آواز بـه گڼي او بیا هم وایي چې

هجري په بېجاپور کې بندي نه و، بلکه په دربار کې نوکر

او مغولو هلته منصب ورکړی و، خو وطن ته یې نه راپرېښود

نو دا خبره خواه یوې خوا خپله تناقض لري، دا څنگه د دربار

نوکر وُ چې بندي هم و؟ د اڅنگه په منصب «فائز» و

چې حتی له دکن څخه بهرکېد لی هم نه شو؟ آخر هغه و لې

ویل:

یو زمان به هجري تېر په دکن نه کـــړ

دوران کله په وینا خپله رضـــاکا (٥)

ـه

او د استدلال له دغه تناقض څخه چې را تېر شو، د هجري

د دیوان کو سنه کرسنه نمونې ددې خبرې یو څرگند ثبوت

دی. هجري د گوالیار په ښار په دکن او بېجاپور کې هم

مغولي واکمنو زندان ته اچولی وُ او ځکه خو یې د دکن په

بېجاپور کې هم د زندان د تورتم د شپېو شاعري کړې

ده. په تېره بیا په بېجاپور کې یې د زنداني فریادونو

د غه شاعري د نیایت پام فهم ده، داځکه چې په غالب اکثر

په (۱۰۹۷ هـ ق) کې له ګوالیار څخه بیجاپور ته لیږدول شوی دی او هلته یې له ۱۰۹۷ هـ ق څخه تر ۱۱۰۶ هـ ق کال (د مرګ تر شپې) پورې په زندانونو کې د ژوند شپې او ورځې تېرې کړې دي. په دې شمېر یې د زندان له څوارلسو مجموعي کلونو څخه نږدې شپږ کاله په ګوالیار او نه کاله یې په بیجاپور کې تېر کړي دي. همدغه علت دی چې د هجري په دیوان کې هم د دکن او بیجاپور د زندان یادونه له ګوالیار څخه زیاته او زیاته تراژیکه او غمونکې ده. دا یو حقیقت دی چې کله مونږ د هجري دیوان په غور وګورو نو تر ې څرګندیږي چې د هغه د زنداني شاعرۍ زیاته برخه په دکن او بیجاپور پورې اړه لري. بنایي د دې کار یو بل علت دا وې چې د خپل زندان په اوایلو کې چې هجري په ګوالیار کې محبوس و، نو په دکن او بیجاپور کې له یوې خوا د هغه امیدونه یو څه مړاوي شوي دي (سره له دې چې لا امیدونه شته دي) او له بلې خوا هغه له خپل وطن څخه زیات لیرې شوی دی.

د هجري د غه شعر هم لولو او وینو چې خپل ځان په ډاګه په دکن کې زنداني بولي او د همداغه زندان له

نور نتم څخه فریاد کوي :

لکه ما ته که نصیب همه جهان اور
هرګز مه شه په هیڅا هسی زمان اور
په هفه جهان کافر په آتش سوزي
هجر بل که په دنیا زما په ځان اور
بېلتانه هسې آتش را باندی بل که
لکه بل کا د بلبل په زړه خزان اور
په انداز زما د سوز کله پوهېږي
چا چې نه دی از میلی د هجران اور
که د هجر غم را باندې نه وی (دیار)
راته سهل دی سر یو د زندان اور
جور دومره طغیان وکړ د سراني
چې یې وربیت کړ د دکن خلق ودان اور
لاتاثیر په ظالم نه کا څه سبب دی
د هجري په هر سحر لوني دهان اور (٦)

ـــ

خود هجري په خپل دېوان کې له دغه رول څرګند و
شها د نو نو سره سره بیا هم په «پټه خزانه فی المیزان» کې لولو:

و داشرف خان هجري د دیوان کې ځنې نظمونه هم دا
شهادت ورکوي چې دا د زندان په ظلمتونو کې لیکلی -
شاعري نه ده. وګوری د دیوان د نظم انتخاب :

په ما هر زمان اختر دی چې تاوینم
بې د ید نه دي د کوم شه راته خمار
په اخلاص شه را روانه فکر مه کړه
وهمت و ته شي لنډه لو یه لار
تل دې لاف د پت کاوه په خپل وطن کې
دکن څه دی که رښتیا کوی اختیار
ته هندوې کمه مه سه په یاری کې
چې په یار پسې له اوره نه کا ډار
که په ما پسې را نه شې و دکن ته
په دروغ دې راته که د مینې شمار
ته لیلې غوندې رښتیا وکړه نامې شه
په مجنون پسې وطن کړه هندوبار
په دکن کې ناوې جونه کمې نه دي
که مې زړه په چا کولی څه قرار

د دې شو شعر ونو ( د قلندر صیب منظور بیتونه دي)

په دې نظم کې له خپلې وطني محبوبې نه بار بار او په اصرار دا درخواست شوی دی چې له روهه دکن نه راشي. او س نه پوهېږو چې د مغلو د زمانې په بندیخانو کې سیاسي قید یانو ته دامراعات حاصل وو چې خپلې محبوبې ځان سره ساتلی شي. دیو بل نظم ځنې شعرونه پیش کوو چې اشرف خان هجري په بیجاپور کې لیکلی دي:

ماله شعره شغل کړ په بیجاپور کې
چاوې تالره راځي دروه افغان دی
بل مطلب يې په زړه نشته بې د ید نه
خواهش کا د غزلو نو سخندان دی
وې مې ژړېږي بې بې را وله نادانه
د داناسره يې مجلس داد دیوان دی

ص

که دا شعرونه په زندان کې لیکل شوي وي نو ددې مطلب داشه چې دهندي مغلو بندي خانو کې په ملاقاتونو هیڅ پابندي نه وه او بندیانو په کې د اسې خلق ځان سره ساتلی شو چې دوی ورته «نادان» ویلی شه او هغوی به نه خفه کېده. که دومره سهولتونه په دغه

زمانه کې سياسي بنديانو ته حاصل وو . نو بيا خود مخلو حکومت د ډېر تعريف او ستاينې اهليت لري . خو حقيقت دا دی چې د بادشاه خپل زوی معظم چې (٤٠) هزاری و او هم د غلته کې وُ ، نو هغه او زامنو ته يې د سرخر يېلو اجازت هم نه وُ ....» (٧)

د ښاغلي قلندر مومند د خبرو د دغه اړخ په باب په درنښت سره عرض کېږي چې : په دغو شعرونو کې چې په خپله ښاغلی قلندر د نمونې له پاره د خپلو خبرو د ثبوت په توگه راوړي دي ، په هيڅ ډول دانه څرگندېږي چې هجري دې په دکن کې په زندان کې نه وي ، بالعکس ، ټول د دې شهادت ورکوي چې هجري په زندان کې وُ او بندي وُ . په همدغو ابياتو کې هجري هيڅانه نه ورځي ، بلکه نورو ترغيب کوي چې د ده نه ورشي ، او يا دی تل نورو ته سترگې په لاره وي . حتی خپله د هند او دکن افغانانو ته هم دی نه شي ورتللی ، دی ورته سترگې په لاره دی . دا په خپله پراخته راشه درشه بندېز څرگندوي او ښيي چې هجري په زندان کې و . داچې له وطن څخه خپلې محبوبې ته سترگې په لاره دی او د شعر کې دغه موضوع بيا بيا راوړي ، نو دا

هم په هيڅ ډول له دې خبرې سره د مخالفت له پاره دليل-
نشي کېدای چې هغه دې په زندان کې نه وي ، بلکه ددې
دليل دی چې بندي او دبل په حکم کې دی . دا دشاعر
يو شاعرانه اميد دی او دا چې که چېرې هغه محبوبه
په رښتيا هم راغلې وای نو آيا دی به يې په زندان کې -
ليدلای وای که نه؟ او آيا زندان ته ددې دورتللو
اجازه به وه او که څه ډول؟ دا يوه بېخي جلاخبره ده .
هجري چې کوم چا ته په زندان کې « نادان » ويلی
نو داخو په هيڅ ډول د تعجب خبره نه ده . دخوشحال
بټول د ديوان له دغه ډول شعرونو څخه ډک دی چې دوخت
پاچا ( اورنګ ) ته يې نادان او حتی له نادان څخه سختې
وينا وې کړي دی او حتی همدغه هجري يې په همدغه
زندان کې د اورنګ په باب هم په ښکاره وايي :

لکه زه دې په آتش دجور وريت کړم
سزا ببا موږي جابره شهريار ه (۸)

البته دا خبره چې هغه څه ډول زنداني وُ؟ په کوم
ډول بنديخانه کې وُ؟ «کوټه قلفی»وُ ، په پښو کې يې
زولنې او په لاسونو کې يې هتکړۍ وې؟ په يو ځانګړي

ځای کې نظر بند ؤ ؟ او آیا څوک یې لیدلو ته ورتللی شول اوکه نه ؟ دا د څېړنې یو جلا اړخ دی ؛ خو هغه څه چې لکه د لمر د اسې څرګند دی ، هغه دادې چې ، هجري په بیجاپور او دکن کې هم دګوالیار په څېر بندي ؤ او په دکن کې د هغه ټوله شاعري د زندان د فریادونو هنګامې دي .

ښاغلی قلندر مومند د دې خبرې د ثبوت له پاره چې ګوندې هجري په زندان کې نه ؤ ، یو بل دلیل (۱) هم راوړي . لیکي :

« د اشرف خان هجري له یوه بله نظمه معلومېږي چې د بیجاپور په زندان کې سیاسي قیدیانو ته دسیل او تفریح او بهرته د تللو سهولتونه هم حاصل وو هجري یو نظم کې وايي :

عمارت د بیجاپور واړه عالـــی دی
ولې ماسره نژدې یوه ماڼۍ د ه

ګویا زمونږ سیاسي قیدی په بیجاپور کې په « ماڼۍ » کې یا کم از کم ماڼۍ سره نژدې وسېده . دې نظم کې د ماڼۍ د مېرمنې د حسن صفت شوی دی ، شاید دا دهغه

زماني سياسي قيد يا نوته اضافي رعايت و. يو بل نظم کې دخپل يوسيل تفصيل بيانوي:

بوه ورځ د باغ په سيل ومه وتلی
دچمن په سر بلبله وه ولاړه
ماوی ای د صباحت په سر ين ناستې
ته تاځار شه د دکن دلبرې واړه

ص

نو که د دې ټولو مراعاتو او خصوصي رعايتونو باوجود د پښتنو مشران او کشران په دې اصرار کوي چې - اشرف خان هجري بېجاپور کې ټول عمر په زندان کې تېر کړی و، نو بيا د ا خامخا منو چې د داسې انصاف پسندو واکدارانو سره د اشرف خان ټول اختلافات د گناه تر حده غلط وو.» (۹)

خبره داده چې هجري په ماڼۍ کې نه، د ماڼۍ ترڅنګه داوسېدلو خبره کړې ده، او دا په هيڅ صورت له امکانه لېرې نه ده چې د زندان په څنګ کې دې يوه لويه ماڼۍ وي اويا دې دماڼۍ په څنګ کې بنديخانه. د اسې نمونې بېخي زياتې دي چې حتی د واکمنانو د شاهي ارګ په څنګ کې

بندیځا نه وي . کومه ماځه چې اشرف خان هجری په خپل
دغه شعر کې یاده کړې ده ، په غالب گمان به د بیجاپور
د عادل شاهي واکمنو اداري مرکز وي چې وروسته د
مغولي واکمنو تر تسلط لاندې شو . استاد پوهاند -
میر حسین شاه په دې باب لیکي :

« د بیجاپور دنیو لو له پاره د مغولو هلې ځلې تل
روانې وې . د شاجهان په وخت کې هم پر دغه سیمه جگړې
شوې دي ... خو د بیجاپور وروستی فتح او د بیجاپور
د عادل شاهي واکمنو سقوط د اورنگ زیب په وخت کې
وشول . پایتخت په ۱۰۹۷ هـ کال کې محاصره شو . له
زیات مقاومت سره سره د عادل شاهي وروستي واکمن
سکندر خپل ځان اورنگ زیب ته تسلیم کړ او هغه
پاچاهي چې د یوسف عادل شاه له خوا تأسیس شوې وه
له منځه لاړه .... هجري په بیجاپور کې د یوې ماڼۍ په
خنگ کې و ، چې دغه ماڼۍ غالباً همدغه د عادل شاهي واکمنو
د اداري ځای او د حکومت مرکز و او دا د هغه له خپلو
شعرونو څخه موږ ته راڅرگندیدای شي ... » (۱۰)

نوموړی استاد د خپلې مقالې په یو بل ځای کې د

هجري له خوا د يا دي شوې ماڼۍ په باب ليکي :

« دغه ماڼۍ ، باور ته پېژنن دي اټکل، ګڼن محل ( د آسمان ماڼۍ - يا آسماني ماڼۍ ) ده چې اوس له منځه تللې ده او يو دوه پوړين مستطيل دوله تالار وچې - لومړی عادل شاه هغه په ۹۶۸ هـ ( ۱۵۶۰ ع ) کې جوړه کړې وه . په پاسني پوړ کې يې د استوګنې له پاره يو شمېر کوټې وې او په لومړي پوړ کې يې تالار وچې - دربار به په کې جوړېده . هغه څه چې په دې تالار کې د زيا تې پاملرنې وړ وو ، دلويې دروازې پاسنۍ برخه وه . د دې برخې يو طاق له اتلسو مترو څخه زيات سور درلود او دوه اړو خواوته يې دوه نور کوچنۍ طاقه واقع وو . » (۱۱)

په دې توګه ليدل کېږي چې هجري به د همدغې ماڼۍ په کوم ځنګ کې بندي وي او د اخبره د هغه د بنديتوب په مورد کې هيڅ شک نه شي راپيدا کولی . د غه راز - داسې کوم بيت چې ګڼې هغه دې کوم وخت د کوم باغ ليدلو ته تللی وي ، يا دې يې کوم باغ په دکن کې ليدلی وي - او بيا يې دي داسې يو شعر په دې باب ويلی وي چې

زما اوس هغه ځواني نه ده پاتې، پوما اوس د چا مینه نه
راځي او یا خو دې یې دیوان ندانې شاعر په توګه د تخیل د
رنګینو په رڼا کې یو داسې شعر ویلی وي، نو دا خبره
ترې په هیڅ ډول نه شي څرګندېدلی چې هجري په کوالیار
کې خو بندي وُ، خو کله چې دکن ته لاړ، نو هلته نه وُ بندي.
که یو ازې یو بیت، دیو داسې لېرې اټکل له مخې د شهادت
په ډول راتللی شي نو بیا خو مو د هجري ټول دیوان هم
مخې ته پروت دی. له هغو بیلګو څخه که راتېر شو چې مخکې
راغلې دي په همدې دکن کې د هغه له خوا دغه ویل شوی
شعر ته هم پاملرنه پکار ده:

همېشه د یار په مخ پسې رنځور یم
د هجران په اورېې توده لکه تنور یم
تش صورت مې تقدیر بند که په دکن کې
تل د زړه په یاد د یار و ته حضور یم
زه په هومره ژبه ژاړم له هجرانه
چې امام د نای و چنګ و د تنبور یم
عشق هزار خفته بلا کړې را خبرې
صد رحمت مې په همت چې لا مسرور یم

زخمي زړه لره مرهم د وصال بويه
حبه ای دغوږ کړی پرتی په بېچاپوریم
د وصال په امید هر ساعت تازه شم
که هر څو له یاره لرې په ضروریم
نېک و بد مې د تهمت په کاڼو ولي
زه «هجري» د اوسنی دور منصوریم (۱۲)

صد

ښاغلی قلندر مومند د اشرف خان هجري په دیوان کې په یو راوړي فارسي شعر هم د اسې حکم کوي چې ګوندې ګرفتاری په لسم کال هغه پادشاه عفوه کړی ؤ، په دې توګه له یوې خوا خپلې څرګندې هغه څو الحدخبرې یوې خواته - پرېږدي چې هجري په دکن او بيجاپور کې هيڅ بندي نه ؤ او نوې خبره کوي چې د بند په لسم کال پاچا عفوه کړی دی. په د اسې حال کې چې د هجري له فارسي شعر څخه هم څرګندېږي چې د واکمنو له ځمنې او تعهد سره هغه له زندان څخه راخوشې شوی نه دی او بيا هم په دکن کې بندي او نظربند دی. د هجري د بشپړې فارسي قصيدې لوستل، په خپله موضوع حل کولی شي. (۱۳)

په «پټه خزانه - فی المیزان» کې د اشرف خان هجري له خپل کلام سربېره د سکندر خان خټک د هغه منظوم لیک په باب هم خبرې شوي دي چې هجري ته زندان ته ور لېږل شوی وُ. سناغلی قلندر مومند لیکی:

« د سکندر خان د کوم نظم چې کامل مرحوم ذکر کوي؛ د هغې یو شعر:

چې پېره په د امکان د وطن نه کړې
مګر خوښ د تا مکان د هندو بارشه

د دې شعر په دویمه مصرعه کې که د مکان په ځای «زندان» راغلی وی نو د پرومبۍ مصرعې د «مکان» سره به یې د تضاد په وجه تاثیر هم ډېر زیات شوی وی او د حقیقت مطابق به هم و، ځکه چې د هجري په باره کې تراوسه لا دا دعوی کېدی شي چې هغه په دکن کې بندي وُ، خو چې د دې شعر دویمه مصرع کې «مکان» دی او «زندان» نه دی، نو مونږ ویلی شو چې په «هغه دیار» کې اشرف خان خپل مکان کې اوسېدو. هم د دې نظم په یو بل بند کې سکندر خان زامنی ته خطاب کوی او ورته وایي:

ولې بيا چې ولايت وته رادرومې
جګې جګې وکړه بيا زمونږ پېغان زغ
چې د مونږ سره رادرو مه ووطن ته
بې لتا بلبلې نه کا په بوستان زغ

که اشرف خان هجري په بيجاپور کې په بنديخانه کې وي نو هيڅوک به يې وطن ته د را تللو اختيار نه لرلو او په دې صورت کې د سکندرخټک له خوا ده ته د « رادرومه » - درخواست څه جواز لرلو؟ که صرف دا يو حقيقت هم د نظر لاندې وساتلې شي چې مونږ د اشرف خان هجري هغه مکمل ديوان لرو چې لويه حصه يې په هندوستان کې ليکل شوې ده ! او د اورنګ زيب پرخلاف د لمسونکي او پارونکي شاعري نه ډک دی، نو د اخيره په غالب ګومان کولې شو چې دهندوستان دقيام په زمانه کې اشرف خان قيد نه بلکه آزاد و، ځکه چې بيا دا سوال پيدا کيږي چې که قيد و نو بيا دا ديوان له هنده چا راوړه؟ » (١٤)

عجب استد لال شوی دی ! په لومړيو برخه کې سناغلي قلندر خپله وړاندې کړې ښځوانه طرحه هم رد وي ، وايي چې سکندر

هغه ته و یلی دي چي « را درومه » او که هغه په خپله د راتګ واک

نه لرلو نو سکندر ختک به ولې داسې لیکل ؟ په داسې حال کې چې

دا منظوم لیک په هیڅ ډول د دې ثبوت نه وړاندې کوي چې اشرف

خان هجري دې په زندان کې نه و . سکندر خان ختک هجري ته

زندان ته یو ډیر عاطفي او دردوونکی ښکلی لیک لیږلی دی او

که دا لیک په دقت سره وخیړل شي نو تر یې څرګندیږي چې

یو ورور بل له وطن نه ډیر لیرې بندي ورور ته لیږلی دي .

دا په تحقیق کې ډیر سرسري او سطحي خبره ده چې هغه د مکان

په ځای ولې ( زندان ) نه دی لیکلی او یا دا چې ( زاځو ) ته یې

پیغام ورکړی او ویلي یې دي چې له دوی سره ( را دروهه )

نو هغه څنګه بندي و چې راتللی هم شو ؟ نشو راتللی او

سکندر هم په دې پوهیده چې نه شي راتللی خو یوه شاعرانه

تمنا او التجائي کړي ده ، خیله عاطفه یې څرګنده کړې ده

او ډیره ښکلی یې څرګنده کړې ده . سړی حیران په دې شي

چې ښاغلی لیکوال قلندر مومند په حیث د یو ښه شاعر هم

څنګه دا خبره کوي ؟

د سکندر خان ختک د منظوم لیک یو څو

برخو ته غور وکړئ :

يوه لوړه باندې ستا د هجر غم وُ
په بل لور د خپل پر دې جور ستم و
قبيله دې مدعي شوه د مغلو
بل دې قام لکه کاغذ په نم برهم وُ...
شراشر د فوارو څکه قرار سشه
چې فريا دې تاپسې ليل و نهار شه
مېوه دارې ونې واړه بې مېوې شوې
په فراق کې وچ کديد سرو چنار شه
چې خندا يې د سهار په تنهار کړه
بې له تا هسې خاموش هغه ابشار شه
چې پېسو په دامکان دوطن نه کړې
مګر خوښ د تامکان دهندوبار شه
... د دې بيت په رڼا کې مشغولا کا
بې وطنه مهجوران چې په تور تم دي:

که خورشيد غوندې ښکاره خان په اټک شي
مدعيان به لکه ستوري هسې ورک شي... (۱۸)
له دغه منظوم ليک څخه ښکاري چې اشرف خان هجري په

زندان کې دی او دا لیک سکندر خان خټک هندوستان ته هجري ته ور لېږلی دی. که دغه ټول منظوم لیک ولوستل شي نو دا خبره به ترې ښېجي په ډاګه شي چې د نورتم په لړوکې د بو ناست بندي ورور په نوم دی.

خو پاتې شوه دا خبره چې د اشرف خان هجري دیوان له هندوستان څخه څنګه راغی؟ دا خبره له اصل موضوع سره دومره اړه نه لري، ځکه کېدی شي خپل شعرونه یې د کوم چا په لاس رالېږلي وي، خپل دیوان یې د کوم قاصد په لاس خپلې کورنۍ ته رالېږلی وي. د دیوان کومه نسخه یې افضل خان ته په څه وسیله رارسېدلې وی، وروسته یې دیوان په هندوستان کې د چا لاس ته ورغلی وي او یا داسې کوم بل امکان پیدا شوی وي. او که د ښاغلي قلندر مومند دا خبره ومنو چې: څرنګه چې دیوان یې پیدا شوی او لاس ته راغلی دی، نو بیا خو اشرف خان هجري بندي نه ؤ، دا خو به دا مانا ولري چې د ډېرو هغو نومیالیو او نوم ورکو شاعرانو کلام چې لاس ته نه دی راغلی، هغوی خو به بیا په زندان کې مړه شوي وي!؟ په داسې حال کې چې د هغه د دیوان موندل او تر لاسه کېدل هیڅکله په دې

مانا نه دي چې هجري دي دڅرونډ تر پای د دکن په زندان ســيا زندانو نوکې د څرونډ شپې ورځې نه وي تېرې کړی . په نړیوالو ادبیاتو کې ډېر داسې شاعران لرو چې په زندانونو کې یې اوږده کلونه تېر کړی دي، په زندانو کې یې لوړه شاعري کړې ده او کلام یې له زندان څخه راوتلی دی .

دا هم یو عام قانون دی چې زندانونه د بندیانو تر مړګ وروسته د بندي مړی او سامان وارثینو ته سپاري، او د اعدام شوی کسانو په باب چې داسې کېږي نو هغوی چې په زندان کې په خپل مرګ مړه وي، نو حتمي ده چې د یوان به یې وارثینو ته رسول شوی وي .

حیني څېړونکو او مؤرخینو لا په دې خیال هم دي چې د بیجاپور په زندان کې له مړینې وروسته، د اشرف خان هجری مړی د هغه زوی افضل خان خټک خپل وطن ته راوړ، خو په دې باب لا څه ثقه او مهم سند په لاس کې نه لرو او لکه چې سناغلی لیکوال زلمی هېوادمل یې اشاره ورته کړې ده . په لرغونو آثارو کې لاتر اوسه د دې موضوع په باب څه نه دي تر لاسه شوي او که مستشرقینو هم په دې باب څه لیکلي دي، کوم ځانګړی مأخذ یې نه دی ښودل شوی. (١٦)

په هرصورت، دا موضوع دهغې د دیوان له میندلو سره هیڅ اړه نه شي لرلی او له ز نداني تخته د شعرونو او آثارو رالېږلو او یا وروسته میندل کومه ډېره عجیبه او نا ممکنه خبره په هیڅ ډول نه ده.

خو اوس، د سباغلي لیکوال قلندر مومند د دلایلو وروسته برخې یا وروستی سند ته ستم کېږو. هغه په دې برخه کې له تاریخ مرصع څخه داسې سند وړاندې کوي چې لازمه ده غور ورته وشي. نوموړی لیکي:

„ د تاریخ مرصع بیان دادی چې د اشرف خان د گرفتارۍ نه پس چې کومه جرگه شوې وه، هغې کې دا فیصله شوې وه: «چې خان جنت مکان (اشرف خان - ناقل) چې قیدي دی مغل دې یې خلاص کا، د بادشاه په حضور دې او سي، منصب دې ورکا. هم ازمان بهرام لکه مغل دوړاندې کړی دی، هم دی دې وسي، خاني یې په نامه د بهرام کړه.» دا فیصله چې کېده افضل خان (مؤلف د کتاب) په جرگه کې شامل نه ؤ په «سرور میله» یا تې شوی و او غالبًا چې دا جرگه د «شیخ جیو زیارت» (یعنی د کاکا صاحب زیارت) کې شوې وه چې بهرام او خان علیین مکان یکې «تمامې قبیلې او اولس» سره شرکت کړی و او د

جرګې نه پس « لوی خان » سرور میلې ته راغی او هر کله چې د
جرګې په فیصله خبر بد و نه پس افضل خان نظام پور ته روان
شوی ؤ نو « خان علیین مکان » هم ورپسې نظام پور ته
لاړه . افضل خان د خان علیین مکان نظام پور ته د رسید و
د واقعې نه پس لیکي : « محال تری بولاق یې هم په بهرام
وسپارل . د بهرام ځوی یې ولاچې ته واستوه .» او سره
د دې چې افضل خان دا نه وایي چې د یو فیصلو سره هغه اختلاف
وکړو ، بلکې لا دا وایي : « خومدت مې خان ځنه په نظام پور
کې تېره کړه په امید د ملګیری چې راسره مل به شي څنګ
انتقام به وا خلم .» له د ې ځنې صفا معلومیږي چې افضل خان
د بهرام خان د سرداری او د محال تری بولاق هغه ته د
ورکولو مخالف نه و ... » (١٧)

مباغلی قلندر مومند ورپسې د تاریخ مرصع په روایت
د بلې جرګې په باب وایي : « په هغه جرګه چې مقرر شوی وو
د بهرام سره چې خان جنت نشان ( اشرف خان ناقل ) چې په
قید دی خلاص دې شي دا په کوم سبب په ګوالیار کې محبوس
شه . بویه چې لکه قرار داد شوی دی ، د ګوالیاره دې کوز
شي په منصب دې سرفراز شي ... ګویا افضل خان او-

خوشحال بابا د وایه د کمرو مېلی د جرګې په نتیجه راضي وو او صرف افضل خان ( د پلار خلاصی ) يې اصل مقصد و او بهرام نه يې هم دا مطالبه کوله چې هغه دې دا مطلب حاصل کړي. دې سلسله کې يوه بله جرګه راوغوښتی شوه چې افضل خان ورته دا پيغام ولېږلو. زه په دا معرکه نه درځم. که بهرام اتفاق زما د پلار په خلاصی کا دا وسواس دې نه کا چې زه به مغل ته ورشم.»(۱۸)

سړي ته تعجب پيداشي چې محترم ليکوال او محقق قلندر مومند څنګه له « تاريخ مرصع» څخه دا دول اتکلونه کړي دي. د تاريخ مرصع د غه برخې چې بناغلي نقاد راخيستي دي دومره شک پيدا کوونکې دي چې که څوک بېرته په غور «تاريخ مرصع» ونه لولي، فکر به وکړي چې په تاريخ مرصع کې به رښتيا هم داسې څه ليکل شوي وي، لکه چې نقاد راوړي او په خپل اټکل يې تحليل کړي دي.

لومړی خوله هد غو برخو څخه دا نه څرګندېږی چې اشرف خان دې په دکن او بيجاپور کې بندي شوی. دا چې څه وخت افضل خان د اميرخان نوکري هم قبوله کړې وي نو هېڅکله د دې دليل نه دی چې هغه هم بايد له زندان څخه

خلاص شوی وي. په "تاریخ مرصع" کې یوځای اشاره شوې ده چې بیا هم راجه رام سنګهه (دجرود تانه دار) هغه ته ویلي چې د اشرف خان هجري په بند کې زه ځه لاس نه لرم او د ا په دې مانا چې زه په دې برخه کې څه نه شم کولی. (۱۹)

خو کومه خبره چې د بنا علی قلندر مومند د دغه وړوستي سند او دلیل په باب د زیات تأمل وړ ده، هغه دا ده چې د تاریخ مرصع په هیڅ ځای کې افضل خان دا خبره نه کوي چې ګوندې د هغه پلار اشرف خان هجري له زندان څخه د خلاصون یوه جرګه دې هم برې ته رسیدلې وي او ځکه خو دی له دغو جرګو سره مخالف دی، د پېرېکړو په باب یې بې باوره دی او منفي نتیجې ته یې بیا بیا اشاره کوي. نه پوهېږم نومیالی لیکوال بنا علی قلندر مومند ولې د "تاریخ مرصع" نیمګړې نیمګړې او شک پیدا کوونکې برخې راوړې دي او که د دې موضوع په باب یې د "تاریخ مرصع" بشپړې برخې راخیستې وای، دا موضوع به قدرمنو لوستونکو او علاقمندانو ته په ښه ډول څرګنده شوې وای. په "پټه خزانه - فی المیزان" کې هغه برخې چې خبره پرې سپینېږي او غوښتل کېږي، خدای زده ولې له قلم څخه غورځول شوې دي.

په «تاريخ مرصع» کې د هجري د بندی کېدلو بشپړ جريان راغلی دی، او د غه راز د هغو پټولو ناکامو جرګو تفصيل هم ثبت شوی دی چې د هجري د خلاصون له پاره ترسره شوي دي. «تاريخ مرصع» په يوه برخه کې ليکي:

«... اما چې نن دی راغی و پېژند شه چې هغه جليب‌دار دی چې له خانه‌سره پېښاور ته لاړه. معلوم شول چې آسيب وخان ته ورسيد: په مجرد د ليد و يو يه وسرای ته راغلم په سرای باندې غوغا وه. هرڅوک په خپل‌مال په خپل ځان ګرفتار وو. ملاحظه د خلقو داوه چې اوس به فوج راشي چې راغلم يو ملا عثمان خدای تعالی يې غرق د رحمت کړه چې دی نمک حلال قديمی د دوار وخانانو و. خپل کور، خپل مال يې هرڅه ترشا و راغلی، مسلح په دروازه کې د محل و ولاړ و چې زه يې وليدم راته يې وويل چې ننوزه د محل عالم و باسه. دغره په لوري يې روان کړه. زه ننوتم دلاسه مې د محل د عالمو وکړه نور مې د محل عالم را روان کړ دغره په لور. چې غره ته مې عالم ورساوه نور بيا رته راغلم. ملا عثمان په ځای ناست و. پس له هغه مې حال مال وغره ته کړ. نور زه ورغلم خان عليين مکان ته. لوی خان

په نظام پور و . عابد خان يې را سره کړ . د سرور میلې تر-
راغلم . خان علیین مکان هم را پسې راغی ، جرګې معرکې
ګډې شوې . بهرام د شیخ جیوز یارت ته راغی . راوېي بالله.
خان علیین مکان د تمامې قبیلې او د اولس سره ورغی.
زه یکتنها په سرور میله یا تو شوم . معرکه یې وکړه ،
بهرام مزور هومره تذ وير وکړ چې خان یې فریفته
کړ . په جرګه د امقرر شو ل چې خان جنت مکان په
قید دی ، مغل دې يې خلاص کا ، د بادشاه په حضور
دی اوسي منصب دې ورکا . دا زمان لکه بهرام مغل
وړاندې کړی دی هم دی دې اوسي . خاني يې په نامه
د بهرام کړه . پس له هغه لوی خان بیا د سرور میلې ته راغی .
زه چې په دا حال خبر شوم ، کړه مې په نظام پور وه ،
روان شوم . خان علیین مکان هم را پسې راغی . محال
ترې بولاق يې هم په بهرام وسپارل . د بهرام زوی يې
ولاچې تر واستوه . څو مدت مې خان څخه په نظام پور کې
نیږ کړ . په امید د ملګیری چې راسره به مل شي، خپل
انتقام به واخلم . دا قصیده لوی خان بهرام ته په طریق
د وصیت کښلې وه . دی پرې غافل شه . قصیده دا ده :

دما زړه له چانه روغ نه دی بهرامه
له هر چا سره مې زيست دی له ناکامه ...

دا قصيده په کليات کې تمامه ده. هرگاه نااميده شوم خبر راغی چې خان جنت مکان پادشاه په قلعه د گواليار محبوس کړ ...» (۲۰)

له دې څخه سکاري چې لومړی خو پخپله افضل خان په دې جرگه کې گډون نه دی کړی او دويم دا چې جرگې له زندان څخه د هجري په خلاصون کې هيڅ نتيجه نه ده ورکړې بلکې له همدغې جرگې وروسته افضل خان ته خبر راغی چې اشرف خان هجري په قلعه د گواليار کې محبوس شو.

دغه را نورې هغه جرگې چې د هجري د خلاصون په رابطه ترسره شوي دي او په تاريخ مرصع کې يې يادونه شوې ده، يوه يې هم څه خاصې مطلوبې نتيجې ته نه ده رسيدلې.

د بلې جرگې په باب بيا هم په تاريخ مرصع کې دغه صراحت گورو:

«زه هم له خان عليين مکانه د کمرو مېلې ته راغلم.

تمامي جرګې خان ته وویل چې هغه د تازوی دګادا دی نمی ،
اختیار د تاکه سرداري ده ته ورکوې که هغه ته . خان
علیین مکان ورته په ځواب کې و ویل : چې د ما ازرده ګي
دا ساعت د دوام و په سرداری نه ده . په هغه جرګه
چې څه مقرر شوي وو د بهرام سره چې هغه جنت ښنیان
چې په قید دی خلاص د ې شي ، دا په کوم سبب په
قلعه د ګو الیار کې محبوس شه . «(۲۱)

دغه راز بیا هم لولو :

«ما خان ته عرض وکړ چې دا ساعت د ما فکر اوس
وسال تقاضا د سرداری نه کا . دا هومره تلاش مې
هم محض د پلار د خلاصی دی . ګنه د بهرام نه سرداری
اخیستل د خدای تعالی په کرم ماو ته اسان دی ، هر
وخت چې کمر بندي وکړم انشاءالله تر ې به یې واخلم.
هر چې تادا معرکه وکړه د بر دې سبه وکړه . زه هم پرې
راضی شوم . اوس د ما دوخت تقاضا داده چې د تا په خدمت
دې کفش بر داری کوزه برداري کوم چې تربیت کېږم
اما یو شرط کړم چې تر هغه وخته پورې چې خوخان د ما
او د بهرام په ناستی راضي شوی نه دی . خان علیین مکان

قبوله کړه، راته یې وفرمایل چې ماښګاه دوه قطعې د بهرام په باب ویلې دي. هغه دا دي:

د بهرام په لښکرمه ځه          په ورتللو کې درنګ نه کا
خوچې ځه خو توره ښي وښې        نور له تښتې ځنګ نه کا
که سرې ګهې پرې شي           وا په چارې په ننګ نه کا ... (۲۴)

له دې وروسته بیا هم د بهرام او افضل خان د جګړو ذکر راځي او د خپل پلار د خلاصون په باب هغه په زغرده وایي چې جرګه په څه نیت جوړه شوې وه؟ حتی له دې وروسته له خوشحال خان ختک څخه هم خوابدی کېږي او سره ښکنځي:

«... په ببر ویې د بهرامه سره ولیدل (خوشحال) ماله یې یحیی خان او هغه من ور شیخ باز راستول چې مونږ دې د پلار د خلاصي جرګه کوو، ته هم بویه چې راشې په دا جرګه داخل شې چې دمانه د بهرام خاطر جمع شي، دوا په به سره اتفاق وکړو، مغل ته به سره یو شو، که مغل په دا کار کې سستي کا بدی ده، نه خو پو هېدم چې د دوی مقصود څه دی، ورته مې ځواب ورکړ

چې زه په دا معرکه نه دریځم ، که بهرام اتفاق دما دپلار په خلاصی کا ، دا وسواس دې نه کا له مانه چې زه به مغل ته ورشم اوکه تا سو نور خپل روزگار سره لرئ ، زه د روزگار کډون نه کوم . رخصت مې کړل . خان علیین مکان له هغې جرګې بیا راغی نظام پورته ... ما ورته ووې چې دما دتاقرارداد سره هومره وُچې ته خو ته د ما اود بهرام سره په اتفاق راضی شوی نه یې اوس چې تا اوده سره اتفاق وکړ دما په اتفاق هم د بهرام سره راضي شوی اوس دما دتا سره جدایي ده . هَـذَا فِرَاقُ بَيْـنِي وَبَيْنِكَ ... (۲۳)

اوس نو په څرګنده وبنو چې هغه ټولې حرکې کومې مطلوبې نتیجې ته نه دي رسیدلي . که چیرې هجري له زندان څخه خوشې شوی او بیا لا په منصب هم « سرفراز » شوی وای ، نو بیا خو ددوی په مینځ کې د جدایۍ دا و خپګان او د ښمنۍ پلکومه ښیا دې خبره نه پیداکیده .

غواړم خپلې دغه ټولې خبرې او دلایل رالنډه کړم او په دې ډول په پای کې له دغه بحث څخه یوه لنډه نتیجه ستاسو خدمت ته وړاندې کړم :

۱- هجري د هغو بېلا بېلو عواملو له مخې چې ما په خپل

مخکښې یا د شوي کتابګوټي کې په تفصیل سره بحث پرې
کړې دی ، د هند د مغولي مستبدې واکمنۍ له خوا
بندي کړی شو . (۲٤) دا (۱۰۹۲ هـ) کال و . دی لومړی په
ګوالیار کې محبوس شو . «ګوالیار د اګرې په جنوب کې
موقعیت لري او د اوسنۍ اترا پر دیش په ایالت پورې
مربوط دی . اورنګ زیب غوښتل چې دی د هند کوم لرې
ځای ته ولېږي ، چې له خپل وطن څخه زیات لرې وي ،
ځکه یې بیجاپور ته ولېږه . بیجاپور د هند په جنوب
کې یوه د غرب خواته پروت ناحیه ده چې د بمبئ د ریاست
(اوسنی مهاراشترای) په مضافاتو کې حسابېږي . » (۲۵)

هجري غالباً په ۱۰۹۲ هـ کال کې بیجاپور ته لېږل شوی
دی . په څرګنده لیدل کېږي چې د یوه زنداني په حیث
یې یوازې په زندان او د زندان په مکان کې تبدیلي راغلې
ده ، او لکه چې ښاغلی لیکوال زلمی هیوادمل اشاره ورته
کوي ، کیدای شي د غوڅ یونو په نورو محابسو کې
یې هم څه وخت تېر کړی وي . (۲٦) خو د زندان یا زندانونو
د ټولو جزئیاتو په باب یې تر اوسه پورې بشپړ معلومات
نه دي ترلاسه شوي ، خو دا خبره څرګنده ده چې هغه

دګواليار او بیجاپور په زندانونو کې دژوند تریا ی

پورې پاتې شوی دی . معتبر تاریخي کتاب «تاریخ مرصع»

او دغه راز د وخت کوم بل اثر یې د خلاصون او یا له

زندان څخه د عفوې خبره نه کوي . که د سناغلي لیکوال قلندر

مومند خبره ومنله شي ، نو په دې حساب خو باید هجری

د خوشحال خان په ژوند کې له زندان څخه خلاص شوی او

عفوه شوی وي . موږ د خوشحال خان ختک په آثار و

کې په دې باب هیڅ خبره نه مومو . حتی په هغه ویرنه

(مرثیه) کې چې د هجري له خوا د خپل پلار د مرګ په وخت

کې په ۱۱۰۰ هـ کې په بیجاپور کې کښل شوې ده ، د اتړې

ښکاري چې دغه ویر نړېې هم په زندان کې لیکلې ده . دغه

برخې یې وګورئ :

همه غم لره موجود ده دا فناده

په خطه یې تل ژړا کمه خنداده ...

وې یې ته که خبرنه یې زه دې څرګوم

دا قضیه په دکن هرچری رسواده ...

هومره مه تلی مرور له زمانیو

څو دا «سخته حادثه» پرته په ماده

وی یې لاس د قضا وڅکاوه بې وسه

« ستا مشکله » یې سپارلې په مولا ده ...(۲۷)

۲- په دې کې شک نه شته چې د او سنیو او معلومو لاس ته راغلیو آثارو په رڼا کې د ګوالیار او بیجاپور په زندانونو کې د هجري د حالاتو په باب د پرڅه په لاس کې نه لرو. د هغه په آثارو، یا په نورو آثارو کې په زندان کې د هغه بشپړ حالات نه راڅرګندېږي، خو دغه نه څرګندېږي یوازې په بیجاپور کې نه، بلکه په ګوالیار کې هم په هماغه اندازه ده او حتی تر بیجاپور زیات د ګوالیار په زندان کې د هجري ژوند او حالات ډېر نا څرګند دي.

۳- دا چې هجري په ګوالیار کې او یا وروسته په بیجاپور کې څه ډول بندي و، د زندان شرایط یې څنګه وو؟ څوک یې لیدلو ته پرېښودل که نه؟ په څومره وخت کې یې ور پرېښودل؟ دی یې کوم وخت د کوم ځای لیدلو ته پرېښودلو او که نه؟ د زندان نور شرایط یې څه ډول وو؟ دا ټول موضوع ده او لا تر اوسه پورې په دې باب بشپړ او مستند څه په لاس کې نه لرو، خو هغه

څه چې لګه د لمر په څېر څرګند دي، هغه دا دي چې هجري په ګواليار او بيجاپور دواړو کې بندي ؤ، ترمرګه پورې بندي ؤ. حتی د «تواريخ خورشيد جهان» مؤرخ او ليکوال شېر محمد ګنداپور لا دا خبره هم کوي چې هجري په قيد خانه (زندان) کې خود کشي وکړه. (۲۸)

سره له دې چې د «تواريخ خورشيد جهان» د غه خبره د تأمل وړ ده، دقيقه نه سکاري او د هغه وخت په معتبر و آثارو کې لا د دې هکي ثبوت نه شته، خو هغه څه چې تر ې څرګندېږي دا دي چې په زندان کې يې له نړۍ څخه سترګې پټې کړې دي.

۴ـ د هڅو لو را اوروستنيو نوميا ليو څېړونکوا و ليکوالو په څېړ نو کې دا خبره څرګنده شوې ده چې هجري له ځوا رلسو کالو ستونزو، کړ اوونو او غمو نو وروسته د هند د مغولي استبداد په زندانونو کې مړ شوی دی. د ګڼ شمېر اسناد و او مدار کو په رڼا کې ټول ليکوال په د ې خبره متفق دي. «هلته» او «د لته» ټول ليکوال د ا خبره کوي چې هجري د ګواليار له زندان څخه د بيجاپور زندان ته لېږل شوی دی. يو ځل بيا بايد په «پټه خزانې الميزان»

کې پر دې موضوع تأمل وشي .

۵- د هجري په خپلو شعرونو کې دا موضوع ښکاره ځانګړتیا لري، د هغه د دیوان له لوستلو وروسته سړي ته هیڅ ډول شک نه شي پیدا کېدلی چې هغه دې ته اړ شوی و چې په کوالیار کې بندي وي او په بیجاپور کې دې په منصب لګېدلی وي ، خو له بیجاپوره او دکن څخه دې خو ځېدلی نه شي . مامخکې په دې باب د هجري شعرونه د څرګندو د لایلو په توګه راوړي دي ، خو که هغو شعرونو هم د ځینو کسانو قناعت لا نه وي حاصل کړی ، د غو شعرونو ته یې هم پاملرنه وکړئ :

بیجاپور هجري په خوب لیدلی نهٔ

آخر پیښ شی هغه کار چې یې قضا کا (۲۹)

او د خپل زندان په لسم کال هم حتی وایي :

نه کالونه ګذشته دالسم کال دی

چې سپهر مې سرګرم په ګوشمال دی

د دنیا طمعې یې تار په تار خوري شوی

د غریب هجري امید په ذلجلال دی

یا داچې : څو په تخت باندې قایم دی اورنګ شاه

په نوکرۍ دې هیڅ پښتون نه کا ویسا

نن آغاز د لسم کال دی باور وکړه

چې په بند کې یې زیږېږم بې ګناه (۳۱)

نو آیا د غه د بند په لسم کال ګنې هغه ځان په ځرګند بندي نه ګڼی. د غه وخت خوشحال په دکن او بیجاپور کې دی ، آخر هغه څنګه په منصب «سرفراز» شوی دی؟

او د یو بل جالب شعر یو ازې د غه برخه هم لولو:

څو د یار د مستو سترګو نه جدا یم

لاهو کړی د حیرت خوټې دریا یم

د ځيګر و ینې مې وخوړې غمونو

مرګه جګې جګی راشه اوس رضا یم

که زما په خون مین یې نن دی وار دی

د یار غم مې سبا وژلی درته وایم

په هغو د هجران څه چې یار یې نه وي

زه یې څکه په اورو سوم چې آشنا یم

یا د کن د غم وطن سبا دې یې نه شته

لا په ما غمونو شپه کړه مبتلا یم

هر نفس په ما عاشور که یزید اسو
گویا زه حسین دوخت په کربلا یم
زه په بند داورنګ نه یم چې به خلاص شم
بندي کړی شیخ رحمکار زیړي کاکا یم ...(۳۲)
او په یای کې دغه بیتونه :
بیجا یور به هجری څه کاوه یا را نو
دقضا علاج پرې نه کېږي ناچار دی (۳۳)

هجری تش صورت نصیب په دکن بند کړو
په خدمت یې دیار زړه دایم حضور دی (۳٤)

که نصیب بنده بند کړی په دکن دی
دامن ګیر یې همیشه عشق دوطن دی
سبا دي څه ته عالم وایي خبر نه یم
تل ژړا زما ریاض غم مې چمن دی
د زړه باز یې تل د روه په زمکه ګرځي
که هجری په دکن ناست خالي بدن دی (۳۵)
د دغو خبرو په رڼا کې څرګندېږي چې په

«پټه خزانه - فی المیزان» کې د دې او نورو برخو په څېر د اخبره هم د پوره تامل وړ ده، چې کني هجري یوازې په ګوالیار کې بندي وٸ او په بیجاپور یا دکن کې زنداني نه و.

امید دی چې په خپله د غه څېړنه کې مې د پښتو د کلاسیکو ادبیاتو یو د بحث وړ او په زړه پورې اړخ یو څه روښانه کړی وي.

## مأخذ او منابع


۱- مومند، قلندر، «پټه خزانه - فی المیزان» پېښور، چاپځای ۱۹۸۸ع، (۲۲۵ - ۲۳۷) م، م.

۲- هجري اشرف خان، دیوان هجری، ترتیب او مقدمه د همېش خلیل، پېښور، ۱۹۵۸ع، (۱۵۳- ۱۵۵) م.م

۳- همدغه اثر، (۲۸۰) م.

٤- همدغه اثر، (۲۹۰ - ۲۹۱) م، م.

۵- همدغه اثر، (۲۹) م.

٦- همدغه اثر (٤۳- ٤٤) م، م.

۷- پټه خزانه-فی المیزان، (۲۳۷- ۲۳۹) م.م.

۸- د ديوان هجرى ، (۱۲۳) م .

۹- پټه خزانه - في الميزان ، (۲۳۹ - ۲۴۰) م ، م .

۱۰- ميرحسين شاه (پوهاند) اشرف خان هجري و بيجاپور

ادهجرى ياد - د مقالو مجموعه) دافغانستان دعلومو

اکاډيمى ، ۱۳۶۴ ش ، (۲۳ - ۲۵) م ، م .

۱۱- دهجرى ياد (همدغه مقاله) ، (۳۲) م .

۱۲- ديوان هجرى ، (۴۰۲) م .

۱۳- همدغه اثر ، (۵۸۴ - ۵۸۶) م ، م .

۱۴- پټه خزانه - في الميزان ، (۲۴۰ - ۲۴۲) م ، م .

۱۵- رفيع ، حبيب الله ، ادبي ستوري ، دويم ټوک ،

کابل ، داطلاعاتو او کلتور وزارت ، ۱۳۵۹ ش

(۳۴۴ - ۳۶۲) م ، م .

۱۶- هېواد مل ، زلمى ، فشرده زندگينامه هجري سراينده

رنجهاى دردها ، (دهجرى ياد - د مقالو مجموعه) ۲۸۲ م .

۱۷- پټه خزانه في الميزان ، (۲۴۲ - ۱۴۳) م ، م .

۱۸ - همدغه اثر ، (۲۴۳ - ۲۴۴) م ، م .

۱۹- ختک ، افضل خان ، تاريخ مرصع ، مقابله ، تصحيح

او نوټونه دوست محمد خان کامل مومند ، يونيورستى بک ايجنسى

پېښور ، (۴۹۸) م .

۲۰) تاریخ مرصع ، (۴۹۳-۴۹۴) م ، م .

۲۱- همدغه اثر ، (۴۹۵) .

۲۲- همدغه اثر ، همدغه مخ .

۲۳- همدغه اثر ، (۴۹۲) م .

۲۴- انځور ، زرین ، د ننځیر ونو شاعر- اشرف خان هجري
دافغانستان دعلوموا کاډیمی ، ۱۳۶۴ هـ ش (۴۶-۵۶) م م .

۲۵- دهجری یاد ( داستادپوهاند میرحسین شاه مقاله ) (۲۰)
او (۲۵) م ، م .

۲۶- همدغه اثر ، ( د بنا غلی زلمي هېوادمل مقاله ) ، (۲۸۰) م .

۲۷- دیوان هجري ، (۱۴۳-۱۴۸) م ، م .

۲۸- کنداپور ، شیرمحمدخان ، ابراهیم زی ، تواریخ
خورشید جهان ، ۱۳۱۱ هـ ، (۲۴۴) م .

۲۹- دیوان هجري (۲۴) م .

۳۰- همدغه اثر ، (۵۷۶) م .

۳۱- همدغه اثر ، (۵۷۹) م .

۳۲- همدغه اثر ، (۴۰۹-۴۱۰) م ، م .

۳۳- همدغه اثر ، (۴۶۵) م (۳۴) دیوان هجری (۴۷۲) مخ .
۳۵- همدغه اثر (۴۷۹) م .

" پای "